عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپريدل: عمومي
۷ مارچ ۲۰۱۴
اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
شپږ اتيايمه ناسته
د اجنډا ۳۷ ماده

د امنيت شورا
شپږ شپیتم کال

**د افغانستان وضعيت**

**د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې**

**د عمومي منشي راپور**

**اول. پيژندنه**

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۰۹۶ (۲۰۱۳) پريکړه ليک په تعقيب په کوم کې چې په هرو دريو مياشتو کې له ما غوښتل شوي، چې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲. زما د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر د ۶ نيټې (A/69/645-S/2013/721) د راپور د خپريدو راهيسې، دغه راپور د پام وړ بشري، پراختيايي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعاليتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور همداراز د افغانستان په تړاو د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي. زما د ۲۰۱۳ کال د مارچ د ۵ نيټې د راپور د (A/67/778-S/2013/133) د خپريدو رااهيسې، د امنيت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پريکړه ليک سره په سمون کې په ضميمه کې د معيارونو او شاخصونو په لور د ترلاسه شوي پرمختګ په اړه يوې ارزونې ته ځای ورکړل شوی.

**دوهم. اړوند پرمختګونه**

۳. د جنوري په ۱۷، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کورنۍ څلور تنه غړي په کابل کې په يوه رستورانت په بريد کې ووژل شول. طالبانو د بريد مسؤليت په غاړه واخيست. په دغه بريد کې د ۱۷ افغانانو او نړيوالو ملکيانو په شمول، زموږ همکارانو وديم نظروف (په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوی) (يوناما))، وابيل عبدالله (نړيوال وجهي صندوق) او نسرين خان او باسره (يونسف) خپل ژوند له لاه ورکړ. د کلونو شخړې په افغانستان کې ډيری کسانو ته تراژيدي/کړاو راوړي. زه دلته د دغو نړيوالو ملکي کارکونکو د ژمنتيا له امله دوي ته ځانګړي احترامات وړاندې کوم. د سياسي چارو ديپارتمنت ته د سوله ساتي عملياتو د ديپارتمنت څخه د يوناما د ملاتړ لپاره د مسؤليت د پلان شوی ليږد د په نظر کې نيولو سره، د سياسي

چارو لپاره زما مرستیال، جیفري فیلټمن، د فبروري د ۱۳ او ۱۵ نیټو تر منځ د کابل او مزار شریف څخه د پیژندګلوي لیدنه ترسره کړه. هغه د جنوري د ۱۷ نیټې د برید په تعقیب د خواخوږۍ پیغام وړاندي کړ او د یوناما له کارکونکو ستاینه یې وکړه.

## سیاسي پرمختګونه

۴.  د راتلونکو ټاکنو لپاره چمتوالی چې د اپریل د ۵ نیټې د ټاکنو لپاره پلان شوی د پروګرام سره سم پر مخ روان دی. د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د کمپاین رسمي موده د فبروري پر دوهمه او د ولسوالیو د شوراګانو لپاره د مارچ پر ۴ پیل شوه. د هیواد په کچه پراخ ساسي فعالیتونو تر سترګو کیدای شي.

۵.  د جنوري په ۵، ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ د ۱۱ نوماندانو څخه جوړه یوه ناسته ترسره کړه او په هغه کې یې د رڼو ټاکنو د ترسره کولو په اړتیا او په یاد بهیر کې د دولت له خوا د نه مداخلت په اړتیا ټینګار وکړ. د کمپاین د مودې د پیل راهیسې، په سړکونو او لارو د نوماندانو پوسټرونه او بلبورډونه کتار شوي، په کابل او د هیواد په کچه ستر کمپاینونه تر سره کیږي. په افغانستان کې د پخوانیو ټاکنو په پرتله یوه بې سارې ځانګړنه د تلویزیوني مناظرو زیات شمیر وو، د فبروري تر ۲۵ نیټې پورې نهه هغه ترسره شوي چې دا په خپل ذات کې د نوماندانو لپاره یو شمیر فرصتونه را منځ ته کوي څو د بیلابیلو موضو ع ګانو په اړه خپلې نظریې وړاندې کړي.

۶.  په ټاکنو پورې په تړلي تاوتریخوالي کې د جنوري پر ۲۴ د ولسمشري په مرستیال نوماند اسماعیل خان، د اوبو او انرژۍ په پخواني وزیر او د هرات په والي د وژنې هڅه شامله ده. په دې پسې وروسته د فبروري په ۱ په هرات کې د ولسمشرۍ د نوماند عبدالله عبدالله د کمپاین د ټیم دوو غړو د وژنو، وژونکې پیښه راځي او ورپسې د فبروري په ۷ په سر پل کې دریم کس ووژل شو. د فبروري په ۱۹، د ښاغلي عبدالله د موټرو په کاروان هغه مهال ډزې وشوي چې کله له ننګرهار څخه کابل ته په لار و، هغه په دې پیښه کې ټپي نه شو. د دغو پیښو سربیره، د ټاکنو پر وړاندې کوم ستراتیژیک ګواښ را څرګند نه شو. په یوه پام وړ سیاسي پرمختګ کې کوم چې د جنوري په لومړیو کې را منځ ته شو، د حکمتیار د اسلامي ګوند وسله والې مخالفې ډلې خپلو ملاتړو ته لارښونه وکړه تر څو په ټاکنو کې ګډون وکړي. د فبروري په ۱۶، د دې ډلې یوه ویاند ووېل چې یاد ګوند د پخواني لوړ پوړې چارواکي قطب الدين هلال د ولسمشرۍ د نوماندۍ څخه څوک چې د یوه خپلواک نوماند په حیث سیالۍ کوي ملاتړ کوي.

۷.  په افغانستان کې د تیرو ترسره شویو ټاکنو په پرتله د ټاکنو لپاره تحنیکي ملاتړ ډیر پرمختللی وو. د جنوري په ۳۱، د کورنیو چارو وزارت د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په سپارښتنه د رایو د ټولټال ۷۱۶۸ مرکزونو د امنیت د خطر ارزونه بشپړه کړه. که څه هم چې ویل شوي چې د رای ۷۹۶ مرکزونه د خطر لوړې کچې لري، د کورنیو چارو وزارت وویل چې افغان امنیتي ځواکونه کولای شي د ټولټال ۹۴ سلنه مرکزونو امنیت خوندي کړي. د فبرو ري په ۱۹، کمیسیون، د دې امنیتي مشورې په پام کې نیولو سره خپلې ارزونې چمتو کړې، د ټولټال ۲۱۶۶۳ مرکزونو په درلودلو سره ( د هغه له جملې څخه ۱۲۷۰۵ د نارینه وو او ۸۹۵۸ د ښځو لپاره) د ټولټال ۶۷۷۵ رای مرکزونو یو نوملړ خپور کړ. ولایتونو ته د ټاکنیزو توکو لیږد د فبروري په ۱۲ پیل شو. د دې سربیره، د فبرو ري تر ۱۴ پورې، د کمیسیون د نوم لیکني تقویتي پرورګرام هغو کسانو ته څوک چې ۱۸ کلني ته رسیدلي، او چا چې د رایو خپل کارتونه ورک کړي یا د تیرو ټاکنو د ترسره کیدو راهسې له خپلو ځایونو کوچیدلي، ۵. ۳ میلیون اضافي رایه ورکونکو ته د رای ورکولو کارتونه ویشلي. د هغو له جملې څخه چې د رایو نوې کارتونه تر لاسه کوي نږدې ۳۵ سلنه یې ښځې دي. د دې لپاره چې د رای و رکولو د حق څخه زیات تر زیاته ملاتړ وشي، دا تمرین به د ولایت په کچه د رایې ورکولو له ورځې څخه تر دوو اونیو د مخه مودې پورې دوام وکړي.

۸. د جنوري په ۶، د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د ولسمشرۍ د پنځو نوماندانو پر وړانډې د بشري حقونو د جدي سرغړونو، جنګي جرمونو او/يا فساد په اړه ادعاوې د نورو تحقيقاتو لپاره د لوی څارنوال دفتر ته راجع کړې. د جنوري په ۱۵، د لوی څارنوال دفتر اعلان وکړ چې د شواهدو د نه شتون له امله دوسيې تړل شوي. د کميسيون له خوا د ولايتي شورا د ټولټال ۲۷۱۳ نوماندانو د مشروعيت ارونزه دوام لري. کميسيون د تعليم او/يا عمر د معيارونو پر بنسټ ۲۵ تنه د جنوري په ۲۶، او ۱۹ نور د فبرو ري په ۱۶ منع اعلان کړل. دغې نوې ادارې په پرله پسې ډول خپل جوړښت او تشکيلاتي ظرفيت جوړولو ته دوام ورکړ. د جنوري په ۱۶ يو لنډ مهاله ستراتيژيک او عملياتي پلان تمويل کوونکو ته وړانډې شو، د نوم لکيني، دوسيه جوړولو او د ټاکنيزو ننګونو او شکايتونو په اړه د قضاوت لپاره طرزالعملونه د فبروري پر ۴ خپاره شوه. ولسمشر کرزي د فبروري پر ۱۱، د ټولټال ۱۰۲ ولايتي شکايتونو د کميسيون د کميشنرانو ټاکل تصويب کړل. د هغو ترسره شويو هڅو سربېره چې موخه يې د ټاکنو په بهير کې د ښځو د ګډون زياتوالی و، د ټاکل شويو ښځو کم شمير (د مجموعي شمير يوازې ۶ سلنه) د انديښنې وړ دی.

۹. د جنوري په ۲۲، د رسنيو کميسيون، چې يو موقت ارګان دي او د ټاکنيزې مودې لپاره تاسيس شوی، تعديل شوي مقررات صادر کړل چې موخه يې د ټولټاکنو پر مهال د رسنيو د چارو تنظيمول دي. د جنوري په ۲۹ يې د ۱۰ سيمه ييزو ورکشاپونو يوه سلسله پيل کړه تر څو د رسنيو کارکونکو ته خپل اختيارات او مقررات بيان کړي. د ټاکنو نظارت به عموما د افغاني ډلو لخوا ترسره شي، چې د افغان چارواکو په غوښتنه د نړيوال ماموريت لخوا بشپړيږي. د فبروري تر دوهمې نيټې پورې، د ټاکنو خپلواک کميسيون ټولټال ۱۰۲۷ داخلي کتونکو ته (د نظارت د ټولټال ۵۳ داخلي سازمانونو څخه) او ۱۰۶ نړيوالو کتونکو ته (د ۳ نړيوالو سازمانونو څخه) او همدارنګه د سياسي ګوندونو ۱۳۵ استازو ته (د ۲۴ ګوندونو څخه) اعتبار ليکونه ورکړي. د رسنيو ټولټال ۵۱۹ استازو (۳۷۵ داخلي او ۱۴۴ نړيوالو) هم اعتبارليکونه ترلاسه کړي. د جنوري د ۱۳ او ۲۴ تر منځ، د اروپايي اتحاديې تحقيقاتي ټيم د افغانستان څخه ليدنه وکړه، او د جنورى په ۲۳ په اروپا کې د امنيت او همکارۍ سازمان د خپل تحقيقاتي ټيم راپور خپور کړ، کوم چې د ټاکنو د ملاتړ د ټيم د ۱۵ غړو د ګمارلو وړاندوينه کوي.

۱۰. د وسله والو مخالفينو سره د سولې د يوه رسمي بهير د را منځ ته کولو په لور پر مختګ محدود پاته شوی. د ډسمبر په ۲۲، يوه اعلاميه چې طالبانو ته منسوبيږي هغه راپورونه رد کړل چې ګويا د طالبانو پخواني مرستيال مشر ملا عبدالغني برادر، څوک چې د بند څخه تر خوشي کيدو وروسته په پاکستان کې پاته کيږي، دنده ورسپارل شوې چې د طالبانو په استازيتوب په رسمي خبرو اترو کې ښکيل شي. د فبروري په ۱۲، د طالبانو د واکمنۍ يوه تن پخواني چارواکي، آغا جان معتصم اعلان وکړ چې د طالبانو د غورځنګ يو شمير مشرانو د متحده اماراتو په دوبۍ کې سره ليدلي او د بين الافغاني خبرو اترو په پيليدو چې په هغه کې به د افغانستان حکومت، طالبان او نوري ياغي ډلې شاملې وي، سلا شوي. د فبروري په ۱۵، د افغانستان د سولې عالي شورا او يوه ورځ وروسته د افغانستان د ملي امنيت شورا د معتصم له خوا د شوې اعلان هرکلی وکړ. د فبروري په ۱۹، د طالبانو له خوا يوې خپرې شوې اعلاميې د دوبۍ په ناسته کې د ګډون يا د افغان چارواکو سره د سولې د هر ډول خبرو اترو د ښکيتيا څخه انکار وکړ او و يې ويل چې معتصم په اوس حال کې په غورځنګ کې کومه دنده نه لري او هم د غورځنګ څخه کوم استازيتوب نه کوي.

۱۱. د ډسمبر تر ۳۱ نيټې پورې، د افغانستان د سولې او بيا يو ځای کيدنې د پروګرام ګډ سکرتريت راپور ورکړ چې ټولټال ۷۷۹۶ کسان د پروګرام سره يو ځای شوي او د کوچنيو پورونو د ورکړې ټولټال ۱۶۴ پروژې په ۲۵ ولايتونو کې تصويب شوي چې د لنډ مهال لپاره د اشتغال فرصتونه برابروي. سولې ته د يوه مناسب چاپيريال د را منځ ته کولو د هڅو په دوام کې، د سولې د عالي شورا يوه پلاوي د ډسمبر د ۲۸ او جنوري د ۲ نيټو تر منځ سعودي عربستان ته سفر وکړ ترڅو د اسلامي همکاريو د سازمان (OIC) د ديني عالمانو په ناسته کې برخه واخلي. د سولې د شورا وړانديز ته د اسلامي همکاريو د سازمان لخوا مثبت غبرګون ووېل شو تر څو د نړيوالو علماوو يوه کاري ډله را منځ ته کړي تر څو د هغو ديني روايتونو سره مبارزه وکړي چې په افغانستان کې تاوتريخوالي ته لمن وهي. د جنوري په ۲۱، د يادې شورا د ښځو کميټې د هيواد په کچه يو کمپاين پيل کړ چې سرليک يې "د اوربند او سولې لپاره د افغان ښځو غږ و" او موخه يې د وسله والو دښمنيو د پای ته رسولو لپاره د ټولټال

۳۰۰۰۰۰ لاسلیکونو را غونډول وو. په ورته وخت کې یوناما د قومي او نژادي فشارونو د کمولو او د ټولنو تر منځ د باور د رامنځ ته کولو لپاره د سیمه ییزو خبرو اترو تسهیل کولو ته دوام ورکوي. د محلي حکومتي چارواکو، د ټولنې دودیزو مشرانو او مدني ټولنې په ګډون سره، غونډې په جوزجان، کندز، لوګر، میدان وردګو، پکتیا او تخار ولایتونو کې ترسره شوې. د جنوري په میاشت کې، یوناما د ټولټاکنو د سوله ییزه ترسره کیدو په برخه کې د افغان علماوو د نقش د ترویج په موخه یو لړ سیمینارونه هم په لاره واچول چې د بادغیس، غور، هرات، کونړ، لغمان، ننګرهار او نورستان ولایتونو څخه یې دیني عالمان او دیني عالمان سره راټول کړي.

۱۲. د امریکا د متحده ایالتونو سره د افغنستان دوه اړخیزه امنیتي تړون لا هم نه دی لاسلیک. ولسمشر کرزي په پرله پسې توګه پر هغو شرایطو ټینګار وکړ کوم چې هغه د نومبر په میاشت کې د مشورتي لویې جرګې په پای کې محاسبه کړي و، د سولې د پروسې د رسمي پیل په ګډون. د ډسمبر په ۲۱، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناتو) او افغانستان تر منځ د ځواکونو د حالت د هوکړې په اړه خبرې اترې پیل شوې ترڅو له ۲۰۱۴ وروسته د روزنې او مشورتي ماموریت لپاره قانوني چوکاټ چمتو کړي. ناتو ویلي چې دا به یوازې له متحده ایالاتو سره د دوه اړخیز تړون تر لاسلیک کیدو وروسته پای ته ورسیږي.

۱۳. د فبروري په ۱۳، د افغانستان حکومت ټولټال ۶۵ بندیان چې پخوا د متحده ایالتونو له خوا افغانستان ته سپارل شوي وو، له بنده خوشي کړل. د ۲۰۱۲ کال تر تفاهم لیک لاندې د ژمنو سره د مغایرت په خیر، په کابل کې د متحده ایالتونو سفارت له بند څخه د خوشي شویو بندیانو خوشي کول چې دوي یې د " خطرناکو بندیانو" په حیث پیژني او د جدي جرمونو سره تړاو لري، غندلي. د فبروري په ۱۷، عبدالرقیب تخاري، د طالبانو د راستنیدونکو چارو پخواني وزیر څوک چې د امنیت شورا د ۱۹۸۸ بندیزونو د رژیم په تعقیب فهرست شوی و، په پشاور کې ووژل شو. د افغانستان دولت هغه "د سولې د شهید"په نوم یاد کړ او د هغه جسد یې د خښولو په موخه د هغه پلارني ولایت تخار ته انتقال کړ.

## ب. امنیتي پرمختګونه

۱۴. په افغانستان کې امنیتي وضعیت ماتیدونکی پاته شوی. ملګرو ملتونو په ۲۰۱۳ کال کې په افغانستان کې ټولټال ۲۰۰۹۳ امنیتي پیښې ریکارډ کړې چې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو راهیسې د مشاهده شوي تاوتریخوالي د کچې په حواله د ۲۰۱۱ کال راهیسې دا کال یواځنۍ دوهم کال دی. د هغو پیښو له جملې څخه ۷۰ سلنه هغه یې د هیواد په شرق، جنوب شرق او جنوب کې ریپورټ شوي. کندهار ولایت د ټولو پیښو د ۱۳ سلنې هغو ځای و چې په ۲۰۱۳ کال کې واقع شوې. د ۲۰۱۲ په پرتله د ۵۱ سلنه وسله والو نښتو په ډیریدو سره، په ۲۰۱۳ کال کې وسله والې نښتې او په لاس جوړ چاودیدونکي توکي په تخنیکي لحاظ د ټولو پیښو د ۷۵ سلنې څخه استازیتووب کوي. افغان ځواکونو ثابته کړه چې کولای شي د دولت ضد عناصرو د بریدونو پر وړاندې د خاورې څخه ساتنه وکړي او په پام وړ تلفاتو سره نیول شوې ځمکه بیرته ترلاسه کړي. یوه بیلګه د کنړ په ولایت کې د یاغیانو د فبروري د ۲۳ نیټې برید و چې په نتیجه کې یې د افغان ملي پوځ ټولټال ۱۹ سرتیري ووژل شول او نور ۶ لا درکه شول. په وسله والو نښتو کې زیاتوالی د افغان امنیتي ځواکونو له پلوه د یوه ستر عملیاتي سرعت او د لیرد پرمهال پر افغان ځواکونو د دولت ضد عناصرو لخوا د متمرکزه بریدونه په پایله کې درک کیدای شي. د ۲۰۱۳ په جریان کې، د افغان طالبانو سربیره، د تحریک طالبان، لشکر طیبه او لشکر جنګوي په ګډون د هیواد ختیځ او سویلي ولایتونه د یو شمیر ډلو د سختو بریدونو سره مخ شوي. د افغانستان په شمال کې، د ازبکستان اسلامي غورځنګ په لیرې پرتو او غرنیو ولسوالیو کې خپل فعالیت ته دوام ورکړ او سولې، امنیت او ثبات ته یې جدي ګواښ پیښ کړ. د ۲۰۱۲ کال د ټولټال ۱۰۱ هغو په پرتله چې یواځې ۷ هغه یې په کابل کې ترسره شوي، په ۲۰۱۳ کال کې په افغانستان کې د ټولټال ۱۰۷ داسې پیښو په پیښیدو سره، چې ۱۸ هغه یې یواځې په کابل کې پیښ شوي، د وسله والو مخالفینو له خوا د انتحاري بمونو تاکتیکي کاروونې دوام وکړ.

۱۵. د جنوري تر نیمایي پورې، د افغان ملي پوځ د پرسونلو شمیر ټولټال ۱۹۳۴۲۷ تنه وو، په دې کې ټولټال ۷۳۰۰ تنه پرسونل شامل دی چې په افغان هوایي ځواک کې دنده سر ته رسوي. د هوانوردي، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو سره د مبارزې او استخباراتو په شمول، د تخصصي وړتیاوو تر څنګ، پاته کموالی تر دیره په ستراتیژیکو او بودیجوي کچو کې موجود و. د ۲۰۱۳ کال په جریان کې د خدمت څخه د تیښتې کچه ۳۴ سلنه و، او فرار یې لا هم یوه ستره اندیښنه ده. د جنوري په ۸، د کورنیو چارو وزارت په کال کې د ټولټال ۱۵۰۰ پولیس پرسونلو د روزنې په موخه د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د خنثی کولو په اړه خپل لومړنی تخصصي ښوونیز مرکز پرانیست. د جنوري پر ۱۴، سمونوال جمیله بایز د کابل د یوې ولسوالۍ د امنیه قومندانې په توګه وټاکل شوه، هغه لومړۍ میرمن ده چې دې پوست ته ټاکل شوې. په داسې حال کې چې د پولیسو شاوخوا ۱ سلنه پرسونل ښځې دي، د جنوري په ۲۱، د کورنیو چارو وزارت د ساتندویه تدبیرونو په درلودلو سره چې موخه یې د سرغړونو او سوء استفادې مخنیوی دی د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځینه وو پرسونلو د ښه ادغام او یوځای کولو په موخه یوه ستراتیژي پیل کړه. وزارت به همدارنګه د ټاکنو په ورځ د رای ورکونې په مرکزونو کې د کار لپاره ټولټال ۱۳۰۰۰ ښځینه پلټونکې وروزي. د ۲۰۱۳ تر پای پورې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو لخوا اداره شوي د قانون او نظم وجهي صندوق د ټولټال ۱۴۵۱۹۹ پولیسو معاشونه ویشلي.

۱۶. د فبروري تر نیمایي مودې پورې په ۱۴۲ ولسوالیو کې د ټولټال ۲۷۰۰۰ پرسونلو په درلودلو سره، پلان ده چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه دا شمیر ۳۰۰۰۰ پولیسو ته پورته شي. په جلا توګه، د افغان سیمه ییزو پولیسو د امنیتي نوښت غځول لا هم دوام لري. په ۲۰۱۳ کې د ټولو امنیتي پیښو ۹ سلنه د دغو پرسونلو پر وړاندې رهبري شوي. ډیری وختونه دا قوتونه په ناامنه سیمو کې ځای په ځای کیږي او ځینې وختونه بیا په داسې نقشونو کې ځای پر ځای کیږي د کومو لپاره چې دوي ښه نه تجهیز کیږي او په کافي اندازه نه روزل کیږي، څکه نو دوي په آسانه د دښمن هدف کرځي. د افغان د سیمه ییزو پولسیو د شتون له امله د ډیری ټولنو څخه د امنیت د ښه کیدو راپورونه راغلي. په ورته وخت کې، یوناما د په خپل سر اعدامونو، جزا ورکولو، ډارولو، غیر قانوني لټون او اخازي په شمول، د سیمه ییزو پولیسو د ځینو غړو لخوا د بشري حقونو ترسره شوي سرغړونې مستند کړې. د ۲۰۱۳ د نومبر د ۱ او د ۲۰۱۴ د جنوري د ۳۱ تر مینځ ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ۱۴ ملکي وګړي وژل او ۱۸ نورو ټپي کیدل مستند کړي چې دا د ۲۰۱۲/۲۰۱۳ د ورته مودې په پرتله څلور چنده زیاتوالی دی.

۱۷. د امنیت په تړاو د پرمختګونو په اړه کوم چې د افغانستان په خلکو او د ملګرو ملتونو په وړتیا چې ورسپارل شوې دندې او فعالیتونه پر مخ وړي منفي اغیزه لري، د راپور ورکولو موده د بې ساري امنیتي پیښو شاهده پاته شوې. دا لړ تر لړه تر یوې اندازې پورې د غیر معمولي نرمې هوا د شرایطو پایله وه، د دې معنی دا ده چې د ټولو خواو عملیات د نورمال په پرتله لږ مخه نیونکي و. د ۲۰۱۳ کال د نومبر د ۱۶څخه د ۲۰۱۴ کال د فبروري تر ۱۵ پورې، تولتال ۴۶۴۹ امنیتي پیښې مستند شوې، چې دا د ۲۰۱۲/۲۰۱۳ د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښيې. د ۲۰۱۲/۲۰۱۳ د ورته مودې پر مهال د ۱۷ پیښو په پرتله، د ۲۰۱۳ کال د نومبر د ۱۶ او د ۲۰۱۴ د فبروري د ۱۵ تر منځ ۳۵ انتحاري بریدونه ثبت شوي. د تیر کال د ورته مودې پر مهال د پنځو هغو په پرتله، د دغو پیښو ۱۰ هغه یې په کابل کې ترسره شوي. د کابل په یوه رستورانت د جنوري د ۱۷ همغږی برید، چې په نتیجه کې یې د ملګرو ملتونو د کورنۍ څلورو غړو خپل ژوند له لاسه ورکړ، له ۲۰۰۱ راهیسې په بهرنیو ملکي وګړو تر ټولو خونړی برید و: ۱۳ نړیوال او ۸ تنه ملکي وګړي په کې ووژل شول. طالبانو د برید مسولیت په غاړه واخیست. نورې ۲۱ امنیتي پیښې، چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ملګري ملتونه اغیزمنوي، د ۲۰۱۳ کال د نومبر د ۱۶ او د ۲۰۱۴ کال د فبروري د ۱۵ تر منځ ثبت شوي. ډیری پیښې یې جرمي کړنې یا د ډاروني کړنې وې چې داخلي کارکونکو ته متوجه وې. په ننګرهار کې د ملګرو ملتونو په دوو کاروانونو ډزې وشوې، چې په نتیجه کې یې درې تنه بدرګه کونکي پولیس ټپیان شول، او د یوناما یوه چورلکه چې ګردیز ته په لار وه د سپکو وسلو په ډزو برسیرنه زیانمنه شوه.

۱۸. په ۲۰۱۲ کې د ټولټال ۳۶۷ تلفاتو او ۹۱ مړینو په پرتله، د ۲۰۱۳ په اوږدو کې، په ټولټال ۴۵۵ تلفاتو سره او ۱۲۹ ریکارډ شویو مړینو په شمول، د هغو پیښو په شمیر کې زیاتوالی راغلی په کومو کې چې ماینونه او د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي شامل دي. د ماینونو د خطر څخه د دریو پاکو ولسوالیو د اعلانولو سربیره، د راپور ورکولو د مودې پر مهال،

د ماین پاکۍ شریکبانو چې ملاتړ یې د ملګرو ملتونو له خوا کیده په ۳۱ ټولنو کې د جګړې ۲۸ ډګرونه او د ماین ۲۱۴ ډګرونه د ماینونو له خطر څخه پاک کړي. د ۳۳ ولایتونو په کچه د ماینونو ټولټال ۴۱۷۱ ډګرونه په ماینونو ککړ دي. د پخوانۍ شخړې میراث ته د رسیدګۍ سربیره، ملګري ملتونه د ایساف سره د یوې ستراتیژۍ په جوړولو، چې موخه یې د پوځي اډو، د ډزو او ویجاړولو د تمرین ځایونو، هغو ډګرونو څخه چیرې چې هوایي مهمات کارول شوي او همدارنګه د جګړې له وروستیو ډګرونو څخه د جګړې د پاته شونو چاودیدنکي توکو لرې کول او خنثی کول دي،کار کوي. مهمه ده دا ستراتیژۍ د مسلې وسعت او ساحه تعریف وي. تر دې دمه، ایساف د ۲۳۱ هوایي پرتابونو او د جګړې د ډګرونو د ساحو او ډزو د ۳۳۱ تمرین ځایونو لپاره کوردینات برابر کړي دي.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۱۹. افغانستان په فعاله توګه د خپلو ګاونډیانو ښکیلولو او د سیمه ییزې همکارۍ ترویجولو ته دوام ورکوي. پدې کې د یوه خوندي او ثبات لرونکي افغانستان لپاره د سیمه ییز امنیت او همکارۍ په اړه د استانبول په بهیر کې د افغانستان مخکښه رول، د قوي سیاسي خبرو اترو تعقیب او د اعتماد جوړونې د اقداماتو پرمختګ شامل دي. د جنوري په ۱۷، هندوستان په نوي ډیلي کې د لوړ پوړو چارواکو د یوې غونډې کوربه توب وکړ. د "آسیا زړه" غړو هیوادونو او ملاتړ کونکو هغو او سازمانونو د امنیت، د افراطي عناصرو د حرکت او د اقتصادي پراختیا او ثبات لپاره د سیمه ییزې انرژۍ د همکارۍ د اهمیت په شمول، او همدارنګه د اعتماد جوړونې د شپږو توافق شویو تدبیرونو په اړه د پرمختګ د بیا کتنې او د پروسې لپاره د تمویل د روښونو په مسلو تمرکز وکړ. د فبروري له ۲ څخه تر ۱۱ پورې، د ناورین د مدیریت د باور جوړونې د اقداماتو د یوې برخې په توګه، جاپان د قزاقستان، پاکستان او ترکۍ د چارواکو کوربه توب وکړ ترڅو معلومات او غوره عملونه شریک کړي. د فبروري د ۲۶ او فبروري د ۲۷ نیټې ترمنځ، افغانستان د تروریزم پر وړاندې د اعتماد جوړونې د اقداماتو د یوې برخې په حیث د تروریزم د تمویل دیوه سیمینار کوربه و. د افغانستان په اړه د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ د شپږم کنفرانس لپاره هم چمتووالی روان دی چې تمه ده د مارچ په ۲۶ به په کابل کې جوړ شي.

۲۰. په سیمه کې د افغانستان او نورو هیوادونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو د ښه کولو هڅې هم دوام لري. د ډسمبر په ۸، ولسمشر کرزي تهران ته سفر وکړ او د ایران د اسلامي جمهوریت له ولسمشر حسن روحاني سره یې موافقه وکړه چې د دوي هیوادونه به د یوې جامع ملګرتیا او د همکاریو د تړون لپاره کار وکړي چې اوږد مهاله سیاسي، امنیتي، اقتصادي او فرهنګي همکارۍ او سیمه ییزه سوله او امنیت تر پوښښ لاندې نیسي. د فبروري په ۲۶، په تهران کې د اسلامي همکاریو د سازمان د پارلماني اتحادیې د غونډې په څنډه کې، د ولسي جرګې رییس د ایران د اسلامي جمهوریت د مجلس له رییس سره وکتل. د ډسمبر په ۱۲، ولسمشر کرزی هند ته سفر وکړ، هلته یې د لومړي وزیر منموهن سینګ سره په ګډه، د استانبول د پروسې په ګډون د سیمه ییزو همکاریو، ادغام او پرمختیا لپاره د افغانستان پر ژمنې ټینګار وکړ. دواړو مشرانو همدارنګه د ایران د اسلامي جمهوریت سره په ګډه د نوي تجارت او ترانزیتي لارو د پراختیا لپاره د ملاتړ ژمنه وکړه. د فبروري په ۱۵، د هندوستان د بهرنیو چارو وزیر کندهار ته سفر وکړ تر څو له ولسمشر کرزي سره یو ځا ی د افغانستان د کرنې د علومو او ټیکنالوژۍ ملي پوهنتون پرانیزي. د فبروري په ۷، د روسیې د فدراسیون په سوچي کې د XXII المپیک ژمنیو سیالیو په څنډو کې، ولسمشر کرزي د چین له ولسمشر شي جینپینګ سره وکتل، چا چې د افغانستان له بیارغونې سره د مرستې او د پانګونې د هڅونې لپاره د خپل هیواد په چمتووالي ټینګار وکړ. هغه همداشان د ولسمشرۍ د ټاکنو او د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د ملي پخلاینې د پروسې لپاره په ملاتړ ټینګار وکړ. د فبروري په ۲۲، د چین د بهرنیو چارو وزیر د کابل څخه لیدنه ترسره کړه او له ولسمشر کرزي او نورو لوړ پوړو چارواکو سره یې وکتل. د فبروري په ۱۳، ولسمشر کرزی د ترکیې له ولسمشر او د پاکستان د لومړي وزیر سره د لیدو په موخه د اتمې درې اړخیزې غونډې لپاره انقرې ته سفر وکړ. د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د پیاوړي کولو په شمول، یوې ګډې

اعلامېې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په دوو اړخیزو اړیکو کې د "مثبت تحرک" هرکلی وکړ. د افغانستان د ثبات د ملاتړ په برخه کې د سیمه ییزې او نړیوالې پرمختیایي همکاریو دوام ته اړتیا لیدله کیږي. د فبروري په ۲۲، د پاکستان د مالیې وزیر د یوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ د افغانستان - پاکستان د ګډ اقتصادي کمیسیون د نهمې ناستې لپاره کابل ته راغی او په افغانستان کې یې د یو شمیر پروژو څخه هم لیدنه وکړه چې د پاکستان په مرسته بشپړې شوې.

۲۱. زما ځانګړي استازي یان کوبیش، د سیمه ایزې همکارۍ د لاسرسي خپلو ورسپارل شویو فعالیتونو ته دوام ورکړ. د ډسمبر په ۱۳، هغه د عشق آباد څخه لیدنه وکړه، چیرې چې هغه د ترکمنستان له ولسمشر کربانګلي بردیمحمدوف سره وکتل او د افغانستان لپاره یې د بشري لاسرسي او زیربنایي پروژو په ارزښت خبرې وکړې. د جنوري په ۲۲، هغه په مسکو کې د شانګهای همکاریو د سازمان د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د مرستیالانو په ناسته کې ګډون وکړ، او د مخدره توکو د قاچاق او د ترهګرو ډلو او همداشان د پولې په اوږدو کې د سوداګرۍ او پانګونې د زیاتوالي په شمول د ګډو ګواښونو په اړه خبرې اترې وکړې. د فبروري د ۲۳ او ۲۵ ترمنځ، هغه د پاکستان له حکومت سره د سلامشورو په موخه اسلام آباد ته سفر وکړ.

## دریېیم. بشري حقونه

۲۲. د ۲۰۱۴ کال د فبروري په ۸، یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۳ خپل کلنی راپور خپور کړ. راپور په ۲۰۱۳ کال کې ټولټال ۲۹۵۹ ملکي مړینې او ټولټال ۵۶۵۶ ملکي ټپي کیدنې (۸۶۱۵ ملکي تلفات) مستند کړي، دا د ملکي مړینو په شمیر کې د ۷ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره، د ۲۰۱۲ په پرتله ۱۴ سلنه ټولیز زیاتوالی ښیي. راپور په ۲۰۱۳ کال کې دولت ضد عناصرو ته د ټولو ملکي تلفاتو ۷۴ سلنه (۲۳۱۱ ملکي مړینې او ۴۰۶۳ ټپي کیدنې)، او ۱۱ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته ۱۱ سلنه (د ټولټال ۳۴۱ مړو او ۶۱۵ ټپیانو په درلودلو سره، ۸ سلنه افغان ځواکونو او ۳ سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو ته ) منسوب کړي. د مجموعي تلفاتو له جملې څخه ۱۰ سلنه هغه یې د دولت ضد او دولت پلوه ځواکونو تر منځ ځمکنیو نښتو ته منسوب شوې چیرې چې ملکیان د ډزو په تبادله کې وژل شوي او پاته ۵ سلنه تلفات په اصل کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله وژل شوي.

۲۳. د نومبر د ۱ او د جنوري د ۳۱ تر منځ، یوناما تولټال ۵۷۲ ملکي مړینې او ۱۰۶۶ ملکي ټپي کیدنې مستند کړي، دا د ۱۳/۲۰۱۲ د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۵ سلنه زیاتوالي ښیي. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، دولت ضد عناصر د ۷۶ سلنه ملکي تلفاتو او دولت پلوه ځواکونه د ۹ سلنې ملکي تلفاتو مسؤول و. پاته ۱۵ سلنه ملکي تلفات د شخړې کوم اړخ ته نه شي منسوبیدای چې تر ډیره د ځمکنیو نښتو، د پولې په اوږدو کې د ډزو یا د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې را منځ ته شوي.

۲۴. د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د نظارت او راپور وررکولو په هکله د هیواد کاري ځواک په پرله پسې توګه د هغو پیښو په اړه راپورونه ترلاسه کوي په کومو کې چې د ماشومانو د حقونو صریح سرغړونې شاملې دي. د نومبر د ۱ او د جنوري د ۳۱ تر منځو، په هیواد کې د شخړې له امله ټولټال ۱۰۴ ماشومان وژل شوي او ۱۵۴ ټپیان شوي. د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو انفجار د ماشومانو د تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی، چې په نتیجه کې یې ۴۸ مړه او ۶۷ ټپیان شوي. ځمکنۍ نښتې چې په هغو کې د ډزو تبادله، د مرمیو ویشتل، توپخانه، راکیټونه، هاوانونه او د لاسي بمونو بریدونه شامل دي، ټولټال ۳۷ ماشومان وژلي او ۱۳۳ یې ټپیان کړي. ناچاوده توکي، د جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي او ځمکنیو ماینونو د ۱۳ ماشومانو ژوند اخیستی او ۴۱ یې ټپیان کړي.

۲۵. د ډسمبر په ۸، یوناما " د تګ د یوې لارې تر سر لیک لاندې یو راپور خپور کړ چې: په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له مینځه وړو په اړه د قانون د پلي کیدو په اړه تازه معلومات برابروي". راپور، چې د ۲۰۰ چارواکو سره د مشورو او د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر او د ۲۰۱۳ د سپتمبر ترمنځ په ۱۸ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د نږدې ۵۵ قضیو د څارنې پراساس جوړ شوی، ګډې پایلې لري. د راپور شویو پیښو ثبت د تیرو ۱۲ میاشتو د مودې په پرتله ۲۸ سلنه زیات شوی، خو د جرم د اعلان او محکومیت لپاره د ۲۰۰۹ کال د قانون کارول یوازې ۲ سلنه ډیر شوي. په ټوله کې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې د څارنوالانو لخوا د جرمي تورونو شمیر کم شوی و. د مارچ په ۱، د ښځو چارو د وزارت مرستیال د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې تر چوکاټ لاندې د خپلو ژمنو سره سم د قانون د پلي کولو د حالت په اړه د حکومت خپل راپور خپور کړ. د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د ۳۲ هغو په اړه د ترسره شویو څیړنو پراساس، د ماموریت ډیری موندنې په ګوته کوي. د لومړنیو معلوماتو موجودیت د حکومت د کاري پلان په جوړولو او پلي کولو کې یو مهم عنصر دی چې د پیژندل شویو تشو د حل لپاره دی. د جنایي اجرااتو د قانون د ۲۶ مادې په اړه لکه څنګه چې د ملي شورا لخوا تصویب شوې اندیښنې څرګندې شوې کوم چې د شاهد په حیث د تورن شخص د کورنۍ د غړو تر پوښتونو لاندې راوستل منع کوي، پدې توګه د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د یو شمیر زیاتو قضیو د مؤثره محاکمې مخه نیسي. د فبروري په ۲۳، ولسمشر کرزي قانون تایید کړ او بیا یې په ۲۶ ماده کې ژبه تعدیل کړه چې د مقننه فرمان له لارې د خپلوانو شهادت منع کوي.

۲۶. د جنوري په ۲۸، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د پنځه کلن اعتبار د بیاکتنې موندنې خپرې شوې، چې د یاد کمیسیون د حالت په اړه پریکړه د یو کال لپاره وځنډول شوه. د کمیسیون کار او اغیزمنتوب ته د زیات درناوي د څرګندولو پرمهال، د بشري حقونو د ملي ادارو نړیوالې همغږي کونکې کمیټې، د نویو کمشنرانو د ګمارلو د پروسې، د کارمندانو د جنسیت د تناسب او د تمویل کونکو په مالي مرستو په اتکاء پورې اړوندې اندیښنې په ګوته کړې. کمیټې د کمیسیون لپاره په اړتیا ټینګار وکړ تر څو د ۲۰۱۴ په نومبر کې دا اندیښنې د افغانستان له حکومت سره حل کړي، په دې کې پاتې تلل به کمیسیون د "ب" حالت ته ښکته کړي.

۲۷. یوناما د شخړې د اړوندو توقیفیانو سره د چلند د مشاهده کولو په موخه د افغانستان لخوا د اداره شویو توقیف ځایونو څخه لیدنو ته دوام ورکوي. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، په ۲۰ ولایتونو کې د ملي امنیت د ریاست، د افغان ملي پولیسو، د زندانونو د مرکزي ریاست او د ملي پوځ لخوا د ټولټال ۵۴ اداره شویو توقیف ځایونو څخه لیدنه ترسره کړه . د توقیفیانو د شرایطو پر سر د لوړې د زیاتیدونکو اعتصابونو او همداشان د بندیانو د خوشې کیدو د متناقصو غوښتنلیکونو سره سره، د افغانستان د عمومي محبس نفوس په ۲۰۰۸ کال کې د ۱۲۰۰۰ په پرتله په ۲۰۱۴ کال کې ۲۹۰۰۰ ته لوړ شو. د جنوري په میاشت کې په مزارشریف کې ښځینه وو بندیانو درې ورځنۍ اعتصاب وکړ او ادعا یې وکړه چې په جدي جرمونو تورن نارینه بندیان خوشې شوي دي، په داسې حال کې چې د دوي قضیې، چې په ډیریو هغو کې یې "اخلاقي جرم" شامل دي د قانون لخوا یې ملاتړ نه دی شوی. په همدې میاشت کې، د غور په ولایت کې ۲۲ بندیانو د دوي د بند د سزا په اړه اعتراض وکړ. په تخار، جوزجان، کندز او کابل ولایتونو باندې د ابتدایي تمرکز په پام کې نیولو سره، یوناما او تخصصي ادارې د روزنو او محبسونو د زیربناوو په ښه کولو کار کوي.

### څلورم. د کابل د بهیر تطبیق او د پراختیایي مرستو همغږي

۲۸. د جنوري په ۱۵، د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره (د ۲۰۱۳ د ډسمبر د ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ د ډسمبر تر ۲۰ پورې) ټولټال ۶. ۷ میلیارده امریکایي ډالره بودیجه چې ۶۵ سلنه یې عملیاتي لګښتونو او ۳۵ سلنه یې پراختیایي چارو ته ځانګړې شوې، د ملي شورا یا د ولسي جرګې د مشرانو د جرګې له خوا تصویب شوه. د امنیت سکټور یوازې ۴. ۳ میلیاردو ډالرو ته اړتیا لري. د فبروري

په ۱۱، د مالیې وزارت د پنځو ولایتونو لپاره چې د یاد وزارت د ولایتي ازمایښتي بودیجې تر پروګرام لاندې دي د ټولټال ۱ میلیارد ډالرو د اختصاص اعلان وکړ . د ولایتي ازمایښتي بودیجې پایلې به د یوې لا عمومي، غیر متمرکزې مالي پالیسې د پلې کولو د لرلیدونو د ارزونې لپاره وکارول شي.

۲۹.	د ګډې همغږۍ او نظارت د بورډ د خاصې ناستې ګډونوالو د جنوري په ۲۹ د توکیو د دوه اړخیزې حسابورکونې د چوکاټ د ژمنو د تحقق لپاره د ترسره شوې پرمختګ ارزونه وکړه او د افغانستان په اړه د وزیرانو د کچې د راتلونکي پراختیایي کنفرانس لپاره چې تمه کیږي د ۲۰۱۴ په پای کې جوړ شي، راتلونکې اجنډا جوړه کړه. یوناما د بهیر سره او همداشان د سختو سپارل وړ شیانو په اړه د ترسره شوې پرمختګ په اړه د ګډ راپور د چمتو کولو په هکله د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ د خبرو اترو ښکیلتیا تسهیلوي. د سیاسي لیرد پر مهال د افغانستان د اقتصادي او پراختیایي اجنډا ګانو د تداوم د هڅولو په خاطر، د ولسمشرۍ د ۱۱ کاندیدانو څخه د کتونکو په حیث په ناسته کې د ګډون په موخه بلنه شوې وه. په داسې حال کې چې دا د حقونو پر بنسټ د اجنډا او ښې حکومتولۍ په اړه، په ځانګړې توګه د بشري حقونو او د ښځو د حقونو په ساحو کې د ترلاسه شویو لاسته راوړنو په برخه کې د دومداره خوځښت سره نښلوي، بین المللي استازو د افغانستان سره په خپلو اوږدمهاله ژمنو بیا ټینګار وکړ. چټک اقتصادي او پرختیایي پرمختګ، د فساد پر وړاندې د مهمو ژمنو او د پیسو د نړیوال صندوق د معیارونو د پوره کولو په شمول او د هغو هڅو په ګډون چې موخه یې ناقانونه اقتصاد ته رسیدګي ده، ټینګار وشو چې د افغانستان د لا ځان بسیاینې لپاره حیاتي ده. حکومت د ټاکنیز مهال ویش په اړه د خپلې ژمنې په اړه نړیوالو همکارانو ته بیا ډاډ ورکړ او د دې په بدل کې یې د هغوي څخه د مرستو د مدیریت د خپلې پالیسې او د تمویل کونکو د رونوالي په برخه کې د ښه والي غوښتنه وکړه. د ولسمشرۍ نږدې ټولو نوماندانو ژمنه وکړه چې د توکیو د دوه اړخیزه حسابورکونې تر چوکاټ لاندې ترسره شوې پرمختګ ته دوام وکړي.

۳۰.	نړیوال بانک د افغانستان اوسنې اقتصادي لید ته یوه کتنه وړاندې کړې. افغانستان په بې سارې توګه په مرستو یو متکي هیواد پاته شوی. په ۲۰۱۲ کال کې د کرنیزو حاصلاتو له زیاتیدو وروسته، په ۲۰۱۳ کال کې وده اټکل ۳.۱ سلنې ته راټیټه شوه، د عوایدو ټولول د ناخالص کورني تولید (GDP) ۶.۹ سلنې ته راټیټ شوو. د درک وړ ده چې وروستی هغه د اقتصادي سوکه والي او د پلې کیدو په برخه کې د دوامداره کمزوریو له امله ده. اقتصادي بې باوري هم د لومړي ځل لپاره، د ۲۰۱۳ کال په لومړیو اوو میاشتو کې د نوي راجستړ شویو شرکتونو په شمیر کې د ۴۳ سلنې په کمیدو کې لیدل شوې. د غربت کمولو، دندې رامنځ ته کولو او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخو کې لویې ننګونې په ځای پاتې دي. د سړي سر ناخالص کورنی تولید (GDP) په آسیا او په نړۍ کې د منځنیو ۲۰ هغو په منځ کې تر ټولو ټیټ دی، د سواد کچې په نږدې ۲۵ سلنه کې قرار لري، او هر کال د کار بازار ته د شاوخوا ۴۰۰۰۰۰ نویو کسانو د داخلیدو فشار شتون لري. د جنوري په ۱۹، په هیواد کې د مسلکي کاري ځواک د زیاتوالي په مقصد، د پوهنې، کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارتونو د ملګرو ملتونو سره په ګډه، د افغانستان تخنیکي او د حرفوي زده کړې او روزنې لومړۍ ستراتیژي، چې هدف یې د هیواد لپاره د بشري سرچینو رامنځ ته کول دي پیل کړه.

۳۱.	د ماموریت د قانون د حاکمیت هڅې په زیاتیدونکې ډول د ځمکو په شخړو او مدیریت متمرکزې دي. په جنوري کې، د افغانستان د ځمکې د اداري (اراضي) په غوښتنه، یوناما د ځمکو د مدیریت د کاري ډلې ګډه مشري پیل کړه. دې ډلې نړیوال مرسته کونکي او د ځمکې د اصلاحاتو او د ځمکې د اړوندو پروګرامونو پلي کونکي راټول کړي، د اوږدې مودې شخړو لپاره د کار وړ حل لارو ملاتړ کوي چې د هیواد په ډیری برخو کې یې د بې ځایه کیدو سره مرسته کړې.

**پنځم. بشري مرسته**

۳۲. د ډسمبر په ۱۶، د بشر پالنې د چارو لپاره د عمومي منشي مرستيال او د بيړنيو مرستو همغږي کونکې، واليري آموس، د افغانستان لپاره د ۴۰۶ میلیون امريکايي ډالرو د مالي مرستې د غوښتنې په شمول، د ۲۰۱۴ لپاره د بشر پالنې نړيوال پلانونه پيل کړل. د افغانستان لپاره د بشر پالنې د عمل عمومي پلان اټکل کوي چې سږ کال به ټولټال ۴. ۵ ميليونه خلک د ذهني ټکان بيړنۍ درملنې ته، چې لومړيتوب بلل کيږي، او د دې په پام کې نيولو سره چې په اوس حال کې په ډراماتيکه توګه د غبرګون د کچې څخه اوړي، د روغتيايي خدمتونو لاسرسي ته اړتيا ولري . دا پلان همدارنګه ټولټال ۲. ۲ ميليون خلکو ته څوک چې د خوړو د شديد نه مصونيت په توګه ارزول شوي، د مرستې چمتو کولو ته لومړيتوب ورکوي. دريمه ډله د نه ترسره شويو شديدو اړتياوو په توګه پيژندل شوي داخلي بې ځايه شوي اشخاص دي.

۳۳. په ۲۰۱۳ کال کې، د شخړې په پايله کې ټولټال ۱۲۴۰۰۰ نوې بې ځايه شوي کسان ريکارډ شوي، دا د ۲۰۱۲ په پرتله ۲۵ سلنه زياتوالي څرګندوي. دې کړنې په افغانستان کې د داخلي بې ځايه شويو کسانو مجموعي شمير چې د ملګرو ملتونو لخوا ثبت شوی د ۳۴ ولايتونو څخه په ۲۰ کې له ۶۳۰۰۰۰ څخه زيات دی. د هلمند، ميدان وردګو، فارياب او ننګرهار ولايتونو د بې ځايه کيدو تر ټولو لوړه کچه ثبت کړې، چې د ځمکنيو ښکيلتيا ښکارندويي کوي. سربيره پردې، په لوديځ کې دوامداره وچکالۍ د ۲۰۱۳ کال په پای کې د شاوخوا ۱۰۰۰ کورنيو په بې ځايه کيدلو کې مرسته کړې، ډيری يې په ابتدا کې د غور ولايت چغچران او بيا هرات ته تللي. د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر د نيمايي او د ۲۰۱۴ د فبروري د نيمايي تر منځ، په وردګو، نورستان، غور، غزنی، پکتيا او فارياب ولايتونو کې د ۳۵۰۰۰ داخلي بې ځايه شويو کسانو په شمول او په کابل ولايت کې دننه او شاوخوا سيمو، مزارشريف او هرات کې په غير رسمي استوګنځايونو کې زيانمنونکو وګړو ته مرستې ورکړل شوې. د فبروري په ۱۱، د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو په مرسته، د داخلي بې ځايه کيدنې ملي پاليسي پيل کړه. دې پاليسې د ملګرو ملتونو په ګډون د حکومت د بيلابيلو وزارتونو او ادارو رول او مسؤليتونه او د هغوی پرمختيايي او بشردوستانه همکاران په ګوته کړل. د پلې کولو ستراتيژي اوس بايد چمتو شي. افغانستان ته د کډوالو راستنېدل د ۲۰۱۲ په پرتله په ۲۰۱۳ کې ۵۹ سلنه کم شوي، چې ۳۸۷۶۶ تنه افغان کډوال په خپله خوښه بيرته هيواد ته راستانه شوي.

۳۴. د واکسين کمپاينونو په افغانستان کې د ګوزڼ د له منځه وړلو لپاره کار ته دوام ورکړ، چې يو له وروسته پاته هيوادونو څخه دی چې د ناروغۍ راپور ورکوي. په ۲۰۱۳ کال کې، د ګوزڼ ۱۴ راپور شوې قضيې وې، چې دا په ۲۰۱۲ کې ۳۷ هغه وې او په ۲۰۱۱ کې ۸۰ هغه وې. د ډسمبر د نيمايي مودې راهيسې، د لوړ خطر په ټولټال ۴۱ ولسواليو کې درې کمپاينونه ترسره شوي چې په نتيجه کې يې د پنځو کلونو څخه ټيټ د ۷. ۲ ميليونو څخه زيات ماشومان واکسين شوي. د دغو واکسينونو له جملې څخه يو په کابل کې ترسره شو، چيرې چې يو ماشوم د فبرورۍ په پيل کې په دې ناروغۍ اخته شوی و، دا لومړی ځل دی چې د طالبانو د رژيم د نسکوريدو راهيسې په پلازمينه کابل کې قضيه ثبت شوې. د ګوزڼ پروګرام نورو ليرې پرتو سيمو ته له لاسرسي څخه برخمن و.

۳۵. د ۲۰۱۳ د جنوري او ډسمبر تر منځ، د بشري چارو د همغږۍ لپاره دفتر ۲۸۳ امنيتي پيښې ثبت کړي، چې په کې د هيواد د ۳۳ ولايتونو بشری پرسونل، تاسيسات او شتمنۍ شاملې دي. دغو ګډې ارادې او ناڅاپي اغيزې درلودې، چې د ۳۸ کارمندانو په مړينه تمامې شوي ، ۲۹ نيول شوي او کارمندان توقيف شوي، ۵۰ کارمندان ټپي شوي او ۸۴ کارمندان تښتول شوي. پدې کې په هرات کې د جنوري په ۲۱ د ۶۷ ماين پاکانو لنډه تښتونه چې په وروستيو کلونو کې په يوه پيښه کې د منسوبينو تر ټولو لوی شمير و، شامله ده.

۳۶. د جنوري په ۲۲، د بشر پالنې عمومي وجهي صندوق رسما د فبرورۍ په نيمايي کې د تمويل کونکو لخوا د ۳۰ ميليون امريکايي ډالرو د ژمنې سره تاسيس شو. زياترو حياتي اړتياوو ته په لومړيتوب ورکولو سره چې د بشر پالنې د عمل په عمومي پلان کې په نښه شوې، دا تمويل د اړتياوو پر بنسټ د مرستې په لور مرستې رديف بندي کوي.

## شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه

۳۷. د ډسمبر په ۶ او ۲۳، د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو په کابل کې ۶۴ کیلو ګرامه هیروېین او نږدې یو میټریک ټن تریاک ضبط کړل. د عملیاتو په پایله کې د افغان استخباراتو تر رهبرۍ لاندې مخدره توکي ونیول شول، دا د ۲۰۱۲ په پرتله په ۲۰۱۳ کې ۱۰ برابره زیات دی. د جنورۍ په ۲۰، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو په هرات ولایت کې د میتامفیتامینو یو لابراتوار مشخص او له منځه وړی. دا په تیر یوه کال کې په افغانستان کې دریم لابراتوار دی چې پیژندل شوی. د سینتیتیکو درملو نیونې په ۲۰۱۰ کې د ۸ څخه په ۲۰۱۳ کې ۵۴ هغو ته لوړې شوې.

۳۸. د بدخشان د والي په مشرتابه، د شکمیش د سرحدي ولسوالۍ لپاره د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې نوې تاسیس شوې کمیټې د ډسمبر د ۳۱ او د جنورۍ د ۴ تر منځ غونډه وکړه. په دې غونډه کې حکومتي چارواکو، پراختیايي سازمانونو، مدني ټولنې او دیني عالمانو ګډون کړی وو. دا کمیټه د مخدره توکو او معیشت په اړه د ملګرو ملتونو د تسهیل په واسطه د تاجکستان- افغانستان د پولو په اوږدو کې د تیر کال د وزیرانو د کنفرانس په تعقیب را منځ ته شوه. د دې کمیټې د رامنځ ته کولو موخه د افغانستان په بدخشان کې د تاجکستان د ګورنو ولایت او ختلون ولایت د ټولنو سره نښلون و. د ګډو ټولنو د را منځ ته کولو په هدف چې موخه يې د پولې په اوږدو کې د ټولنو تر منځ د سوداګرۍ را منځ ته کول او د اعتماد د فضا جوړول دي، د ورته ګروپونو د را منځ ته کولو چارې د پولې په هغه بله غاړه کې د پرمختګ په حال کې دي.

۳۹. د جنورۍ په ۱۷، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې نوې وزیر د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر د اجرايي رییس ښاغلي یوري بیدوتوف سره په ویانا کې وکتل او ټینګار يې وکړ چې د نړیوالې ټولنې د زیاتو ژمنو پرته به دا چاره ستونزمنه وي چې تل پاتې بریا ترلاسه شي. د جنورۍ په ۲۸ او ۲۹، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت په کابل کې د ښه ګاونډیتوب د اړیکو د اعلامیې کنفرانس تنظیم کړ. د چین، ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، او اربکستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ادارو چارواکو او وزیرانو په یاد کنفرانس کې ګډون وکړ. د اطلاعاتو د لا زیاتې تبادلې او د پولو په اوږدو کې د ګډو هم وخته عملیاتو هڅونه وشوه. د فبرورۍ په ۱۰، د کورنیو چارو وزیر په کابل کې د مخدره توکو سره د مبارزې په اړه د تمویل کوونکو کنفرانس دایر کړ. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه د دریو لومړیتوبونو له جملې څخه یوه ده او په کنفرانس کې يې د نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل چې د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې د قانون د پلې کونکو ادارو ظرفیت جوړولو ته دوام ورکړي.

## اووم. د ماموریت ملاتړ

۴۰. د تیرو ۱۸ میاشتو په اوږدو کې د خپلو ۱۰ ساحوي دفترونو د تړلو په تعقیب، یوناما په ۱۳ ولایتونو کې ساحوي حضور ساتي. ګډ ساحوي دفترونه د رسیدنې او نظارتي فعالیتونو لپاره د یوه يې ساري ملي پلاتفورم برابرولو ته دوام ورکوي. د امنیتي ننګونو سربیره، ساحوي دفترونه هره ورځ د ولایت او د ولسوالۍ په کچو د ټولنو او چارواکو سره د بیلګې په توګه، په هغو سیمو کې چیرې چې ماموریت دایمي حضور نه لري ښکیل دي. د پام وړ هڅې په لار اچول شوې تر څو د ماموریت د زغره والو موټرو د کم شوې شمیر کارول اکثر حد ته ورسوي او حتی په ځینو مواردو کې د سړک له لارې د ماموریتونو د ترسره کولو شمیر زیات کړي او هغه وساتي. یوناما همداشان د کابل څخه د باندې د ۴۰ لیدنو لپاره چې په ۲۰۱۳ کال کې د ډیپلوماتیکې ټولنې له خوا ترسره شوې، مرسته کړې. د هیواد په کچه د ولایتي بیارغونې د ټیمونو تړلو او همداشان د نورو نړیوالو پوځي اډو تړلو د ملګرو ملتونو د ساحوي کارمندانو لپاره د موجوده لوژیستیکي ملاتړ په کچې اغیز درلود، د یو شمیر سیمه ییزو هوايي

ډګرونو د ساتنې د کمولو په شمول. سربېره پردې، د کارمندانو غږي نور نو طبي پاملرنې او خوندي مرکزونو ته هغسې لاسرسی نه لري لکه څنګه چې پخوا په بېړنیو حالتونو کې د دوي لپاره موجود و.

۴۱. په ۲۰۱۳ کال کې د ټولټال ۲۴۳ پوستونو له کمیدو وروسته، یوناما په اوس حال کې ۱۵۱۵ پرسونل لري (د تشو پوستونو د ۶ سلنې میزان په درلودلو سره)، چې د هغو جملې څخه ۳۴۵ هغه يې نړیوال کارکونکي او نور ۱۱۷۰ هغه يې داخلي کارکونکي دي. سربېره پر دې، دلته د ملګرو ملتونو ټولټال ۷۱ رضاکاران، ۱۶ پوځي کتونکي او د پولیسو درې مشاورین موجود دي. د جنوري په ۱۱، یوناما د کویټ د ګډ ملاتړ د دفتر د رهبري د کمیټې په لومړنۍ ناسته کې ګډون وکړ تر څو د حکومتولۍ، مدیریت او د سرچینو د اختصاص د مسلو په اړه لا وضاحت وکړي. د سرچینو د پلانولو د پروژې تصدي، یعني اوموجا د څو میاشتنيي چمتووالي وروسته د مارچ په ۱ په کار پیل وکړ.

## اتم. کتنې

۴۲. په افغانستان کې یو مشروع سیاسي لیږد د ټیکاو لپاره یو بنسټ دی. د راتلونکي میاشتي تاریخي ټاکنې به د یوه منتخب ولسمشر څخه بل ته په افغانستان کې د واک د انتقال لومړۍ هڅه وي. د افغانستان د حقوق او اساسي قانون د چوکاټ سره په سمون کې، د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو ټاکنې چې تمه ده د اپریل په ۵ ترسره شي، د هغو لپاره هڅې د پلان سره سمې رواني دي. ټاکنې د نیمګړتیاوو پرته نه وي، خو که چیرې سمې ترسره شي او پایلې يې په پراخه پیمانه د ټولو لپاره د منلو وړ وي، نو دا به د نوې مشرتابه لپاره اختیارات برابر کړي تر څو د هیواد ډیر شمیر ننګونو ته ځواب ووايي، ثبات غښتلی کړي او ملي یووالی تقویه کړي.

۴۳. د افغانستان د ټاکنیز مدیریت ارګانونه د ټاګنیزو هڅو مدیرت کوي او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون هڅو ښه پرمختګ یقیني کړ، او د تیرو ټاکنو لپاره د تخنیکي چمتووالي په پرتله، دا ځل تخنیکي چمتووالی ډیر پرمختللی و. د ټاکنو د شکایتونو خپلواک کمیسیون د اداراتي ظرفیت د پیاوړتیا لپاره کار کولو کې له لوی ننګونې سره مخ دی، د بیلګې په توګه، د هیواد د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په هر هغه کې شتون، پداسې حال کې چې په ورته وخت کې خپل اساسي مسؤلیتونه ترسره کوي. په شفافه او بې پرې توګه د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت کول به د یاد کمیسیون د نقش لپاره مهم وي. په ټاکنیز بهیر د باور را منځ ته کول به د ملاحظاتو بل مهم عنصر وي، زه همداشان د پراخ جغرافیایي پوښښ څخه د یقیني کولو په خاطر داخلي کتونکي، او همداشان نوماندان او د ګوندونو استازي هڅوم. زه د هغو نړیوالو سازمانونو چې په ساحه کې به د کتنې ماموریتونه پر مخ وړي، هرکلی کوم. پداسې حال کې چې ملګري ملتونه د دې ټاکنو په اداره کولو یا قضاوت کولو کې کوم رول نه لري، خو دا به د خپل واک سره په سمون کې او د افغان چارواکو په غوښتنه، د دې پروسې لپاره د نړیوالې مرستې په برخه کې تخنیکي مرستې او همغږي تسهیل کړي.

۴۴. زما ځانګړي استازی د یوې ټولشموله او بشپړې پروسې د ملاتړ لپاره له ټولو همکارانو سره لیدو کاتو ته دوام ورکوي. د دوره اړخیزه درک د را منځ ته کولو په هدف د سیالي کوونکو تر منځ هڅې چې موخه يې د یوې داسې سناریو پر وړاندې چې " ګټونکي ټولې رایې وړي" د ساتنې هرکلی کوي، په داسې حال چې دوي د رایو په صندوقونو کې نه باید د خلکو غږ بدل کړي. زه د یوه قوي خو له درناوي نه ډک کمپاین هر کلی کوم. نوماندان او انتخاباتي چارواکي لوی مسؤلیت لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د ټاکنو پروسه ثبات او ملي یووالي ته وده ورکوي. زه له کاندیدانو او د هغوي له ملاتړ کونکو څخه غوښتنه کوم چې د انتخاباتي قانون څخه اطاعت وکړي او د اړوندو نهادونو له لارې شکایتونه تعقیب کړي.

۴۵. د اپریل د میاشتې په ۵ تشریف راوړئ، زه په شرایطو برابر ټول افغان وګړي هڅوم چې د هیواد په راتلونکو ټاکنو کې برخه واخلي. د ښځو ګډون، نه یوازې د رای ورکونکو په حیث، بلکې همداشان د نوماندانو، ټاکنیزو کارکونکو او کتونکو په حیث، به د دغو ټاکنو د نمایندګیتوب لپاره یو مهم اقدام وي. دولتي نهادونه او امنیتي ځواکونه باید بې پرې پاته شي، او زه په دې اړه د ولسمشر د روښانه لارښودونو هرکلی کوم. د یوې عادلانه سیالۍ د پرمخ بیولو لپاره د رسنیو ازادي او متوازن پوښښ په مساوي توګه مهم دی. د دې په یقیني کولو سره چې رایه ورکونکي په اطمینان سره په ټاکنو کې برخه واخلي، امنیت مهم دی، او په دې اړه ریښتنې ننګونې نه باید له پامه وغورځول شي. افغان امنیتي نهادونه رهبري کوي، د کورنیو چارو وزارت، د داخلي او نړیوالو شریکانو سره یو ځای د امنیت د پلانولو په برخه لا له وړاندې فعال و تر څو د ټاکنو په بهیر کې زیات رای ورکونکي ګډون وکړي. ټاکنې د وګړو له خواو د دوی د حقونو د کارولو یو تمرین دی، او زه د شخړې په ټولو خواوو غږ کوم چې په دې اړه خپل مکلفیتونه ترسره کړي او د هغو درناوی وکړي.

۴۶. افغانستان د یوې پیچلې شخړې سره مخ دی، چې د وسله والو ډلو او تنظیم شویو جنایتکارو شبکو سره اړیکې لري چې همزمانه او کله نا کله متخاصمې محلي، داخلي او فراه ملي اجنډاګانې تعقیبوي. له ټولټاکنو څخه دمخه د افغانستان د حکومت او لویو وسله والو مخالفو عناصرو ترمنځ د سولې پروسه یا حتی مستقیمې خبرې امکان نه لري. په هرصورت، د سولې لپاره پراخه لیوالتیا د انتخاباتي کمپاینونو او همدا راز د بیلابیلو مذهبي، قومي او مدني ټولنو د ډلو له دریځونو څخه څرګنده ده. اړینه ده چې هڅې دوام ومومي تر څو چمتوالی ډاډمن کړي تر څو د هغو مخ پر زیاتیدونکو تلفاتو چې په ملکي وګړو د تاوتریخوالي لامل کیږي مخنیوی وکړي او کچه یې را ټیټه کړي. دوامداره ښکیلتیا هم باید د نوي حکومت د هڅو سره مرسته وکړي چې د اوږدمهاله حل لارو په لور د لومړیو ګامونو د پورته کولو په برخه کې په چټکۍ سره حرکت وکړي. د بې باورۍ وختونه کولی شي د ټولنې تر منځ سیالي او د ګوښه کیدو احساسات لوړ کړي،د کومو څخه چې ممکن بلواګر ګټه پورته کړي. د ټولنې په کچه د ماموریت خبرې اترې او باور جوړول، د بیلګې په توګه، د سولې په برخه کې د دیني عالمانو وروستی تمرکز، د ټیټې کچې خو خورا مهم شراکت دی. د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې د ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو د ښه نیت دفترونه به د راتلونکي حکومت په اختیار کې وي.

۴۷. لکه څنګه چې د نړیوالې ټولنې پراخ شتون په کمیدو دی، د اوږمهال لپاره په سیمه کې د افغانستان ځای او موقف مهم دی. زه د افغانستان او پاکستان لخوا د ګډو دوه اړخیزو ګټو د پیژندل کیدو د هڅو په واسطه په پرله پسې توګه هڅول شوی یم، او همداشان هیله لرم چې د سولې او ثبات په ملاتړ ریښتنو اقداماتو ته چې د اقتصادي همکارۍ له لارې مشخصې شوې لا پراختیا او وده ورکړي. د متوازنو دوه اړخیزو، سیمه ییزو او ګڼ اړخیزو فورمونه له لارې د مخ پر ودې سیمه ییزې ښکیلتیا هرکلي کیږي. د ننګونو او فرصتونو ګډ ماهیت - چې افغانستان یې د ټولې سیمې د امنیت او ثبات لپاره وړاندې کوي، د سیمه ییزو فورمونو په توګه په پراخه توګه پیژندل شوي، د بیلګې په توګه، د شانګهای همکاریو سازمان، چې خپل پام یې د افغانستان د حل لارو ملاتړ ته اړولی. د استانبول پروسه له نورو هغو څخه توپیر لري او افغانستان د میکانیزم په زړه کې ځای دی. په زیاتیدونکې توګه، د سیمه ییز ثبات او انرژۍ د امنیت د تدبیرونو په اړه پدې فورم کې اساسي خبرې اترې راپورته کیږي، او ملګري ملتونه به د سیمه ییزې باور جوړونې د هڅو لپاره ملاتړ چمتو کړي. زه هیله کوم د وزیرانو د کچې د ناستې لپاره چمتووالی چې تمه کیږي په اګسټ کې د چین په تیانجینګ کې ترسره شی د عملي پایلو د تعقیب لپاره یو فرصت را منځ ته کړي، زه د کوربه او د سیمه ییزې همکارۍ د یوه ترویجونکي په حیث د چین د فعاله نقش ستاینه کوم.

۴۸. ټاکنې، لکه په هر هیواد کې، په اوس حال کې ډیره سیاسي فضا نیسي. په داسې حال کې چې، د افغانستان د اقتصادي پایښت د دوام غوښتنه کیږي له پامه غورځول کیدی نه شي. د همغږۍ او د نظارت د ګډ بورډ ځانګړې ناسته د جنوري په ۲۹ ترسره شوه، چې په توکیو کې یې د ترسره شویو متقابلو ژمنتیاوو په اړه د پرمختګ په برخه کې د دوام پر اهمیت تینګار وکړ، د بیلګې په توګه، د اصلاحاتو، ښې حکومتولۍ او بشري حقونو اجنډا ته د رسیدګې او همداشان د دولت د عوایدو تر منځ او د قوي او غښتلو هڅو له لارې لګښت چې موخه یې د عایداتو زیاتوال دی ډیریدونکې مالي تشه. یو مناسب مقرراتي/تنظیمي چوکاټ د باور یو بل کلیدي جز دی، د پیسو مینځلو پر ضد، د تروریزم سره د مبارزې پر وړاندې د مالي تمویل او کان کیندنې د

قانون تصویب په اړه پرمختګ د یادونې وړ دی، دا ټولې د توکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې تر چوکاټ لاندې ژمنې دي. په داسې یوه چاپیریال کې، افغانستان ته د چمتو شوي مرستې په استثنايي کچو کې هر ډول چټک کمښت جدي خطرونه له ځانه سره لیږدوي، او په راتلونکو کلونو کې د توکیو او شیکاګو په غونډو کې د مالي ژمنو د پوره کولو په برخه کې د نړیوالې ټولنې لخوا وړاندوینې به په مساوي توګه مهمې وي. زه د افغانستان د ولسمشرۍ د نوماندانو لخوا د دوه اړخیزو اصلاحاتو د ژمنو د حرکت ساتلو پر اړتیا او په ځانګړي توګه د پراخ بنسټه، ټول شموله او دوامداره پرمختیا او د غربت د کمولو د اجنډا په حواله د زیاتې پاملرنې د اړتیا هرکلی کوم. د افغانستان د ځوان نسل د زیاتیدونکي نفوس لپاره د دندو د رامنځ ته کولو په اړه د کاندیدانو ټینګار هم په مساوي توګه مهم دی. دې ته په پام سره چې د افغانستان اقتصادي پایښت د خطر سره مخ دی، د وزیرانو د کچې د پراختیايي کنفرانس لپاره چمتووالی چې د کال په وروستیو کې پلان شوی باید د معمول په څیر سوداګري نه وي. د افغانستان د پرمختګ په اړه لومړیتوب لرونکي او دوامداره روش ته اړتیا ده، او ملګري ملتونه به د هغه په ملاتړ د نړیوالې مرستې د همغږې کولو سره ملاتړ کولو ته دوام ورکړي.

۴۹.	د وزیرانو د ناستې لپاره د چمتووالی په برخه کې اصلي تمرکز باید د قانوني اقتصاد د پیاوړي کولو په هڅو وي، او د مخ پر زیاتیدونکي غیر قانوني اقتصاد مخه ونیسي او کمزوری یې کړي. د مخدره توکو لپاره د عرضې او تقاضا په درلودلو سره چې د خلکو روغتیا او د هیواد او سیمې اقتصاد او موسساتي جوړښت له ګواښ سره مخ کوي، په ۲۰۱۳ کال کې په افغانستان کې د تریاکو تولید نوي کچې ته ورسید. لکه څنګه چې نور سکتورونه قرارداد کوي، او لکه څنګه چې بلواګر د مخدره توکو د سوداګرۍ په تمویل په زیاتیدونکي توګه تکیه کوي، په مخدره توکو د متکي یوه هیواد د رابرسیره کیدو ریښتنی خطر شتون لري. د دې خطر د حل لپاره جامع لارې چارې یو ګډ مسؤلیت دی چې د افغانستان، سیمې او پراخې نړیوالې ټولنې پیاوړې سیاسي ارادې ته اړتیا لري.

۵۰.	هغه پرمختګ چې افغانستان د ۲۰۰۱ راهیسې د بشري حقونو د ساتنې او ودې په برخه کې کړی، که څه هم ماتیدونکې دی خو د ثبات لپاره یوه مهمه مرسته کونې کړنه ده. د لیرد د بې باوریو په جریان کې، ډیری افغانان، په ځانګړي توګه میرمنې، ویره لري چې د لنډمهاله سیاسي چټکوالي لپاره د بشري حقونو لاسته راوړنې له یاد څخه ایستل شوې. د دې مهم قانون لاندې د عدلي تعقیب او محکومیت کچه ټیټه پاته شوې، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پلي کولو په اړه زیاته ژمنتیا د دولت یو مهم مسؤلیت ګڼل کیږي. زه د قانون د پلي کیدو په اړه د پرمختګ په اړه د حکومت د لومړي راپور هرکلی کوم. د پام وړ بل پرمختګ د کورنیو د چارو د وزیر له خوا هغه ژمنتیا ده چې غواړي د ښځینه پولیسو شمیر زیات کړي او د دوي لپاره مناسب ملاتړ یقیني کړي. زه د ولسمشر کرزي له خوا د جنايي اجرااتو د قانون د تصویب – چې د کلونو کار پایله ده - او همداشان د هغه د مداخلې هرکلی کوم چې دا یقیني کوي چې د تاوتریخوالي عاملین، په ځانګړي توګه د ښځو پروړاندې، مسؤل وګڼل شي. د دې په څیر د ګامونو پورته کول به د افغانستان په راتلونکي کې د داخلي او بین المللي اعتماد جوړونې سره مرسته وکړي. زه په افغان چارواکو غږ کوم چې د یوه اغیزمن او خپلواک نهاد په حیث د هغه د مهم رول د پوره کولو په برخه کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ملاتړ په موخه ټول اړین اقدامات ترسره کړي. د افغان هڅو ملاتړ چې موخه یې د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت پیاوړتیا ده د ملګرو ملتونو لپاره یو لومړیتوب دی. د ملګرو ملتونو د سیسټم په شاخوا کې، هغه عناصر او نمایندګۍ چې د قانون د حاکمیت د ملاتړ په برخه کې په کار کولو بوخت دي په ډیریدونکې توګه یو ځای کار کوي تر څو هڅو ته جهت ورکړي او هغه تقویه کړي.

۵۱.	افغانستان د نړۍ د کم انکشاف/لږ پرمختللو هیوادونو په منځ کې ځای لري. د ملکي تلفاتو او د جګړې ځپلو وګړو د بې ځایه کیدو په شمول وړاندوینه کیږي چې بشردوستانه اړتیاووې به سیوا شي. پدې زمینه کې، د بشري مرستو همغږي به په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کار یوه اصلي برخه وي. د ۲۰۱۴ ګډ بشردوستانه عمل پلان د خورا شدیدو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو خورا ښه په نښه شوی روش منعکسوي، او زه په تمویل کوونکو غږ کوم تر څو خپلې ژمنې عملي کړي. د ټولټال ۶۷ ماین پاکانو تښتونه د خطرناک عملیاتي چاپیریال یوه بله یادونه ده. داسې کوم سند شتون نه لري چې بشري کارګران دي په سیستماتیکه توګه په نښه شي، په هرصورت، د هغوي د کار نوعیت پدې معنی دی چیرې چې خطرونه ډیر وي اړتیاوې خورا

ډېرې وي. د سیمه ییزو مشرانو لخوا د واکسین د کارمندانو لپاره لاسرسی تسهیل شوی، او که چیرې غواړو چې د ۲۰۲۸ تر پایه پورې د ګوزڼ د ناروغۍ د له منځه وړلو نړیوال هدف ترلاسه شي، نو دا لړۍ باید دوام ومومي.

۵۲. بې باوري د افغانستان د لیږد په وروستي کال حکمفرما ده او په سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو اغیزه لري. نړیوال شتون به په ډراماتیک ډول کم شي، او د افغانستان راتلونکی مشرتابه لا په دې اړه پریکړه نه ده کړې. پدې زمینه کې، مهمه ده هغه وړاندوینه او اعتماد، چیرې چې د لیدو وړ وي، تقویه شي. ملګري ملتونه د لسیزو راهیسې په افغانستان کې د دوام لپاره یو ځواک دی. د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو او د هغه د ښه نیت د چارو د دفترونو شتون، بشري حقونه، د نړیوالې مرستې همغږي او د بشري مرستو چارې به د مهمو هغو په حیث پاته شي. هغه دقیقې لارې د کومو په واسطه چې اداره کولی شي په ښه توګه د افغانستان او د افغانستان د خلکو ملاتړ وکړي هغه به په لازمي ډول د بدلیدونکي وضعیت منعکس کولو ته وده ورکړي. کله چې د افغانستان د لیږد د وروستي کال د سیاسي، امنیتي او اقتصادي اغیزو په اړه ډیر وضاحت شتون ولري، نو دا به هغه وخت وي چې د افغانستان له حکومت سره په ګډه د ملګرو ملتونو رول ته عمیقا کتنه وشي. زه به پدې توګه د امنیت شورا څخه غوښتنه وکړم چې د یوناما ماموریت، چې د مارچ په ۱۹ پای ته رسیږي، د نورو ۱۲ میاشتو لپاره تمدید کړي. د دې کار په ترسره کولو سره، زه له افغانستان سره د دوامداره مشارکت په موخه د ملګرو ملتونو په ژمنو بیا ټینګار کوم. زه همداشان په غړو هیوادونو غږ کوم چې په ټول هیواد کې زموږ د ښکیلتیاوو او فعالیتونو د ساتلو لپاره د اړینو سرچینو چمتو کولو ته دوام ورکړي.

۵۳. زه یو ځل بیا زموږ د څلورو وژل شویو ملګرو ژوند او د هغوي وقف شوي خدمت ته درناوی وړاندې کوم او د هغوي کورنیو ته چې تر شا یې پرې ایښې د خپلې ژورې خواخوږې مراتب وړاندې کوم. د جنوري د ۱۷ نیټې برید یو وار بیا موږ ته دا را په یادوي د کومو سره چې د ملګرو ملتونو داخلي او نړیوال کارکونکي مخ دي. د ملکي ځای په نښه کول د جګړې هر نورم او تاسیس/جوړ شوی قانون ماتوي، زه د دې ډول کړنو په کلکه د غندنې ټینګار کوم. د ملکي کسانو د ساتنې په هدف، د جګړې ټولې خواوې باید خپل مسؤلیتونه پوره کړي او هغه رعایت کړي. زه د خپل ځانګړي استازي یان کوبیش تر مشرۍ لاندې په افغانستان کې له ټولو کارکونکو څخه چې د افغانستان د خلکو ملاتړ کوي د دوي د دوامداره ژمنې له امله مننه کوم.

**ضمیمه**

**د معیارونو په وړاندې ترسره شوې پرمختګ**

**لومړی. امنیت**

**معیار: پایښت لرونکې افغان امنیتي اداري او د سولې او ثبات یقیني کولو او افغان وګړو د ساتنې وړ پروسې.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د روزل شوي او عملیاتي افغان ملي پولیسو او ملي اردو پرسونلو په شمیر کی زیاتوالې | • د جنوري تر نیمایي پورې، د ۷۳۰۰ نظامي پرسونل چې به هوایي ځواک کې خدمت کوي، د افغان ملي اردو پرسونل ۱۹۳۴۲۷ شمیره درلوده. د ۲۰۱۳ تر پای پورې، افغان ملي پولیسو ۱۴۵۱۹۹ پرسونل درلودل.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال د اپریل په ۸ نیټه، د کورنیو چارو وزارت د افغانستان ملي پولیسو او وزارت لپاره خپل لس کلن لید خپور کړ، چې د ملکي پولیسو، ټولنې ښکیلتیا او د ښځینه پولیسو د جلب او جذب پلانونو په ګوته کوي. د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې، یاد وزارت د ښځینه پولیسو مدیریت لپاره خپله ستراتیژي هم خپره کړه، ترڅو د هغوی د ساتنې په اړه لارښود چمتو کړي. دواړه نوښتونو د نړیوالې ټولنې او یوناما تخنیکي مشورې منعکس کړې. |
| د مرحلې او شرایطو پر بنسټ د افغانستان تر مشرۍ لاندې د امنیت لیږد لپاره په پلان کې پرمختګ او وده | • ولسمشر د ۲۰۱۹ د جون په ۱۸ نیټه د لیږد پنځم او نهایي پړاو تصویب کړه. |

**دویم. سوله، بیا ادغام او پخلاینه**

**معیار: د سولې د مساعد سیاسي چاپیریال د تقویې لپاره د رغنده او ټوله شموله پروسې د تقویې په موخه ملي ډیالوګ او سیمه ییزه ښکیلتیا**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سولې، ادغام او پخلاینې هڅو د تقویې لپاره د ټول شموله ملي او | • د ۲۰۱۳ کال د دسمبر په پای کې، ټولټال ۷۷۹۶ تنه د دولت ضد عناصر د افغانستان د سولې او مجدد ادغام پروګرام کې شامل شوي، چې پکې ۶۹۳ قوماندانان / |

| | |
|---|---|
| سیمه ییزو پروسو طرحه کول او تطبیقول | مشران شامل دي. د یادی برنامې له پیل راهیسې، په ۲۵ ولایتونو کې ۱۶۴ وړې وړیا پروژې منظورې شوي، چې د زیربنایي پراختیا او د ټولنې غړو او بیا یوځای کیدونکو ته د لنډمهاله کاري فرصتونو برابرولو له لارې ټولنو ته ګټه رسوي.<br><br>• په مهمو سیمو کې د ټیکاو رامنځته کولو په موخه د حکومت د هڅو ملاتړ لپاره، د ملګرو ملتونو په ملاتړ ملي سیمه ایز پرمختیایي پروګرام په ۲۰۱۳ کې دوام درلود، چې په ترڅ کې یې په ۱۰ ولایتونو کې ۲۲ پروژې بشپړې شوې. یادو پروژو، د پخوانیو جنګیالیو لپاره د بدیل اقتصادي فرصتونه برابرولو په شمول، ۹۴۱۸۲ خلکو ته ګټه رسولی.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال د جنوري له ۸ څخه تر ۱۱ پورې، ولسمشر کرزی او د سولې عالي شورا رییس د واشنګټن ډي سي څخه لیدنه وکړه او د متحده ایالاتو د ولسمشر او نورو چارواکو سره یې د سولې د پروسې د پرمختګ په اړه خبرې وکړې.<br><br>• په افغانستان کې د سوله ییز راتلونکي لپاره د اسلامي همکاریو لپاره دریم نړیوال کنفرانس د ۲۰۱۳کال د مارچ په ۴ او ۵ نیټه په استانبول کې ترسره شو او برخه اخیستونکو یې د خبرو او خبرو اترو له لارې د اختلافاتو د هواري غوښتنه وکړه. د یاد کنفرانس تعقیبي ناسته چې د ۲۰۱۳کال د اپریل په ۸ نیټه په کابل کې ترسره شو، د هغه کنفرانس د پلي کیدو لپاره عملي ګامونه وڅیړل په استانبول کې تائید شو. په دغه ناسته کې دیني عالمانو ځانمرګي بریدونه غیر اسلامي وبلل او محکوم یې کړل.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال د جون په ۱۸ نیټه، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړولو له لارې په افغانستان کې د شخړې لپاره سیاسي حل لارې ته خپله لیوالتیا وښوده. د خبرو لپاره یو دفتر د ټاکل شویو طالب چارواکو او قطري چارواکو په شتون کې په دوحه کې پرانستل شو. د پرانیستې په مراسمو کې د طالبانو د خپل پخواني رژیم له نوم او سمبولونو څخه کار اخیستل د افغانستان د حکومت |

| | |
|---|---|
| | او د افغاني ټولنې د پراخه منفي عکس العمل لامل شو. د جون په ۱۹ نیټه، حکومت اعلان وکړ چې خبرې اترې د هغو تضمیناتو د منځ ته راوړلو لپاره ځنډول شوي کوم چې پروسه به د افغانانو په مشرۍ وي. په پایله کې یې، دفتر په موقت ډول وتړل شو.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال د اګست په ۲۶ او ۲۷ نیټه کې، پاکستان ته د رسمي سفر په جریان کې د ولسمشرکرزي د غوښتنې په ځواب کې، اوه طالب بندیان د ۲۰۱۳ د سپتمبر په ۷ مه خوشې شوي، او ملا برادر د ۲۰۱۳ په سپتمبر کې خوشې کړی شوی و.<br><br>• د سولې عالي شورا پلاوي د ۲۰۱۳ کال د نومبر ۱۹ څخه تر ۲۱ پورې اسلام آباد ته سفر وکړ، چیرې چې دوی د لومړي وزیر او نورو حکومتي چارواکو سره ولیدل چې مخکې موافقه شوي اقداماتو باندې کار وکړي. د۲۰۱۳ کال د نومبر په ۳۰ نیټه کابل ته د سفر پر مهال، د پاکستان لومړي وزیر له طالبانو سره د خبرو اترو د تسهیل کولو لپاره ژمنې نوې کړې.<br><br>• په ۲۰۱۳ کې ، یوناما په څلو ولایتونو کې د ۷۳ با نفوذه افغانانو لپاره د منځګړیتوب مهارتونو روزنیز کورسونه جوړ کړي او د سولې د اوو سیمه ییزو نوښتونو ملاتړ یې کړی چې په پایله کې یې ۲۱محلي ډیالوګونه په نهو ولایتونو کې ترسره شوې. یادو نوښتونو د ټولنو تر منځ د پخلاینې یا اعتماد جوړونې اقدامات ملاتړ لپاره پنځه اعلامیې یا لندمهاله هوکړه لیکونه وړاندې کړل.<br><br>• د امنیت شورا د ۲۰۰۰ کال د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک لپاره د ملي عمل پلان رامنځ ته شو، ترڅو د شځړو په مخنیوي او د سولې په پروسه کې د ښځو برخه اخیستنې د د بهرنیو چارو وزارت ته د ملګرو ملتونو په تخنیکي او مالي مرستې ، دوام ومومي.<br><br>• په ۲۰۱۳ کې، د افغانستان حکومت، د امنیت شورا کمیټې ته مستند ، نوي او دقیق معلومات وړاندې کړل چې په هغو کې د راپور شوي پخلا شوي اشخاصو د وضعیت په اړه کلنې راپور شتون درلود، کوم چې د |
| د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په | |

| | |
|---|---|
| اساس تاسیس شوې، د مثبته، تازه او کره معلوماتو په راغونډولو او وړاندې کولو کې د ورځنیا زیاتوالې | ۲۰۱۲ کال په بهیر کې د تور لست څخه خارج شول. یاده کمیټه د ۲۰۱۱ کال د ۱۹۸۸ شمیر پریکړې پراساس تاسیس شوې و.<br><br>• د اپریل په ۱۶ نیټه، یادې کمیټې د طالبانو لپاره د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو جوړولو او د افغانستان سولې ، ثبات او امنیت لپاره د یو ګواښ رامنځته کولو لپاره د فرد لیست تایید کړ. |
| د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د خلکو د ملاتړ زیاتیدل | • په ۲۰۱۳ کال کې، یوه د سولې ولایتي کمیټه جوړه شوه، چې پدې سره د دا ډول کمیټو شمیر ۳۳ ته ورسید. د مشترکو ولایتی دارلانشا ټیمونو شمیر ۳۳ ته ورسید، کوم چې در افغانستان د سولې او ادغام مجدد د پروګرام د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.<br><br>• د سولې عالي شورا او سیاسي ګوندونو ترمنځ لومړۍ ناسته د ۲۰۱۳ کال د اپریل په ۱۶ مه جوړه شوې وه، ترڅو د سولې له پروسې څخه د ملاتړ په موخه د افغاني ټولنې د بیلابیل کچو ترمنځ د یووالي لاسته راوړلو په لارو چارو بحث وکړي. ورته ورته ناسته د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲ د افغانستان د سیاسي ګوندونو او ایتلافونو د همکارۍ شورا سره جوړه شوې وه.<br><br>• د ۲۰۱۳کال په اپریل او مۍ میاشتو کې ، د سولې عالي شورا د مدني ټولنې ډلو استازو سره ناستې ترسره کړې ترڅو د مدني ټولنې ډلو اندیښنو ته د رسیدګۍ او د ملي سولې په ډیالوګ کې د شمولیت د پراختیا لپاره یو داسې فورم جوړ کړي.<br><br>• د ۲۰۱۳ د جولای په ۴، د سولې عالي شورا د "ټولنیز سولې د ستراتیژۍ په اړه بحث" تر سرلیک لاندې په یوه کنفرانس کې برخه واخیسته، چې د مدني ټولنو ډلو لخوا جوړه شوې وه. هوکړه وشوه چې د شورا ګډه دارالانشا او فورم به په ګډه د ستراتیژۍ پلي کولو لپاره میکانیزم رامنځ ته کړي.<br><br>• د سولې عالي شورا او د علماو ګډ کنفرانس د ۲۰۱۳ کال د اګست په ۴ نیټه په کابل کې د جوماتونو او دیني |

| | |
|---|---|
| | مرکزونو له لارې د سولې او زغم د ودې لپاره د پراخېدو لارو په هکله بحث او خبرې وکړې.<br><br>• د سولې اونۍ په جریان کې، د ۲۰۱۳ په سپتمبر کې، د سولې عالي شورا د سولې په پروسه کې د ښځو د رول په اړه یو سیمه ییز کنفرانس په جلال آباد کې؛ په اسلام کې، د سولې او زغم په هکله د دیني عالمانو نړیوال کنفرانس په کابل کې؛ او د سولې عالي شورا او مدني ټولنې ګډه غونډه په کابل کې تنظیم کړل. سربیره پردې، د لاسرسي نږدې ۱۲۰ غونډې چې له ۲۵۰۰۰ څخه زیاتو خلکو پکې برخه اخیستې وه، د سولې او روغې جوړې ته وده ورکولو لپاره په ټول هیواد کې ترسره شوې. |

**دریېیم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معیار: په ځایي کچه د پالیسي ګانو د تطبیق ظرفیت او خپلو ځانونو د ساتلو له زیاتیدونکې وړتیا سره د ډیموکراتیکو، قانوني، او حساب ورکوونکو ادارو د جوړولو له لارې په ټول هیواد کې د حکومت د واک پراخول.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ښځو ګډون او په قانوني ډول هغوی ته د ورکړل شوې ونډې په پام کې نیولو سره، د حقیقي او مهالنیو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او د خپلواکو ټاکنیزو ادارو د وړتیا زیاتوالې | • ملي شورا د راتلونکو ټاکنو لپاره قانوني چوکاټ تصویب کړ، چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د انتخاباتي شکایتونو خپلواک کمیسیون د جوړښتونو، دندو او واکونو په اړه د ټاکنو قوانینو څخه تشکیل ده. یاد قوانین د ۲۰۱۳ په جولای کې د ولسمشر لخوا توشیح شول. نوي قانون د ولایتي شوراګانو د ښځو ونډه له ۲۵ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته راټیټه کړه.<br>• د رای ورکوونکو د نوم ثبتونې تازه معلومات د ۲۰۱۳ کال د می په ۲۶ پیل شوي، او د ۲۰۱۴ فبروري په ۱۴، ټولټال ۳۵۰۷۶۸۲ رای کارتونه (۳۴.۶ سلنه ښځینه رایې ورکوونکو) ته ورکړل شوي وو، کوم چې ۱۸ کلن عمر ته رسیدلي، د رایې کارتونه ورک شوي یا د تیرو ټاکنو د ترسره کیدو راهیسې بل ځای ته کډه شوی.<br><br>• افغان ملي امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۴ ټاکنو لپاره د کمیسیون لخوا وړاندیز شوي د رایې ورکولو د ۷۱۶۸ مرکزونو نږدې ۹۴ سلنې د امنیت ټینګلو له لارې، ډاډ څرګند کړ. د فبروري په ۱۹، د ټاکنو |

| | |
|---|---|
| | خپلواک کمیسیون د ټاکنو د ورځې لپاره د ۶۷۷۵ مرکزونو لیست اعلان کړ، چې ورته اعتماد یې څرګند کړ.<br><br>• د جولای په ۳۱، د ټاکنو خپلواک کمیسیون لپاره نهه کمیشنران په رسمي توګه ټاکل شوي وو. د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د سپټمبر په ۱۵ نیټه ایجاد شو، چې وروسته د هغې د پنځو کمشنرانو ګمارنه او د سپتمبر په ۲۳ د کمیسیونونو لومړنۍ بودیجه تصویب شوه. د دواړو ټاکنیزو ارګانونو کمشنران د رسمي مشورتي پروسې پر بنسټ د ټاکنو قانون سره سم وټاکل شول. د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل عملیاتي پلان بشپړ کړ، کوم چې د پروسو تفصیلي بیاکتنه وړاندې کوي چې دا ډاډ ورکوي چې ټول اړین فعالیتونه په ګوته شوي او ترتیب شوي او یاد فعالیتونه ټول د هغو مهال ویشونو سره سم تر سره کیږي چې د ټاکنو قانون، مقرراتو ، طرزالعملونو او لارښودونو کې ټاکل شوي. |
| د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې تاسیس او د اداری فساد پر وړاندې د معیارونو رامنځته کول | • د ۲۰۱۳ د سپټمبر په ۲۸، د اداري فساد پروړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې خپل څلورم شپږ میاشتنی راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۳ کال دجنوري څخه تر جون پورې موده تر پوښښ لاندې نیولې وه. په یاد راپور کې د کمیټې په وینا پرمختګ ترسره شوی خو د کابل بانک د پانګوونه بیرته راګرځولو په شمول لا نورې هڅې ترسره شي. کمیټې خپل د ۷۴ اوسني وړاندیزنو په لیست کې ۳۶ نوي وړاندیزونه اضافه کړل.<br><br>• د ۲۰۱۳ د اکتوبر په ۲۱، کمیټې په ملي شورا غږ وکړ چې د کانونو قانون لا ښه کړي ترڅو د اداري فساد پر وړاندې د کانونو سکتور ښه ساتنه وکړي. قانون جوړوونکو په سکتور کې د روڼتیا او حساب ورکونې د زیاتوالي په اړه د قانون په مسوده کې د کمیټې وړاندیزونه به نظر کې ونیول شول.<br><br>• د ۲۰۱۴ کال د جنوري په ۲۷، کمیټې پنځه راپورونه خپاره کړل چې د دولت د بیرته راستنیدونکو ته د ځمکې ویش، د تقاعد تادیات او ملکي خدمت ته د ګمارنو په شمول، په بیلابیلو سکتورونو کې اداري فساد ته د پام وړ زیان منښې په ګوته کړي. |
| د اداري فساد پر وړاندې د ادارو پیاوړتیا تر څو یادې اداری د اداري | • د ۲۰۱۳کال په لومړی ربع کې، د نظارت او اداري فساد پروړاندې عالي دفتر د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د پالیسو |

| | |
|---|---|
| فساد پر وړاندې د حکومت د بشپړ روش د نظارت توان پیدا کړي | پلي کولو کې د همغږي او پراخه پوهاوي لوړولو لپاره په هر وزارت کې د فساد ضد کمیټه جوړه کړه. هره کمیټه د یاد دفتر څخه تخنیکي ملاتړ او روزنه ترلاسه کوي.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال په سپټمبر کې ، ملي شورا د تفتیش قانون تصویب کړ، چې د تفتیش عالي ادارې ته یې دنده وکړه ترڅو د دولتي ارګانونو تفتیش ترسره کړي.<br><br>• د ۲۰۱۳ د دسمبر په ۹، حکومت د افغانستان د روڼتیا نوښت پیل کړ، چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ د اداري فساد پروړاندې یوه پروژه ده. دغه نوښت د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د اداري سیستمونو ظرفیت لوړولو لپاره دی او د پوهنې او عدلیې وزارتونو لخوا به د عالي تفتیش د دفتر او د خلکو ډلو سره پیلیږي. |
| د دولتي چارواکو د شتمنیو د ثبت کلنۍ خپرونه | • د راپور ورکولو په جریان کې د حکومت نظارت عالي ادارې د ۲۹۷۵ دولتي چارواکو شتمني ثبت کړې. یادې ادارې د ۴۴ لوړ پوړو دولتي چارواکو "شتمنیو ثبت" په اړه معلومات خپاره کړي، او د ولسمشر، مرستیالانو ، وزیرانو او والیانو په ګډون د ۳۳ لوړ پوړو دولتي چارواکو لپاره د شتمنیو تصدیق بشپړ شوی دی. د ۳۲ نورو لوړ پوړو چارواکو د شتمنیو ثبت تایید کیږي. |
| په مرکزي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه په ملکي برخو کې د ملکي کارکوونکو د ظرفیت لوړوالې تر څو دندې پر مخ بوزي او خدمتونه وړاندې کړي | • په ۲۰۱۳ کې، د ملکي خدماتو روزنې انسټیټیوټ ۵۱۵۰ ملکي کارمندانو ته د مدیریت، کمپیوټر مهارتونو، انګلیسي ژبې مهارت، پلان کولو او مالي چارو / محاسبې په اړه روزنه ورکړه.<br><br>• په ۲۰۱۳ کې، د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکې اداري د ۷ ولایتی حکومتي دفترونو کارمندانو، ۲۹ ولسوالیو حکومتي دفترونو او د ښاروالی ۸ دفترونه د پلان کولو، راپور ورکولو، بودیجې او بشري سرچینو مدیریت په اړه روزلي. دې ریاست په بامیان او جوزجان ولایتونو کې د سرچینو مرکزونه هم جوړ کړي ترڅو د اداري دریځ په اړه عامه معلومات چمتو کړي. |
| د ملکي خدمتونو د ګمارنو په روڼوالی او موثریت کې زیاتوالې | • د وړتیا پر اساس د ولسوالانو ګمارنې دوام لري، چې په ترڅ کې یې ۴۹ نوی ولسوالان په ۲۰۱۳ کې ټاکل شوي. د دې پروسې له لارې ګمارل شوي ولسوالانو مجموعي شمیر ۲۳۱ ته ورسید. د دې سیستم له مخې ولایتونو معاونینو ګمارل شوي ټوله شمیره د ۲۰۱۳ له جنوري راهیسې ۳۲ پاتې ده. |

| | |
|---|---|
| د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو پیاوړتیا چې ملاتړ یې د ظرفیت جوړونې او د تمویل کونکو د تخنیکي مرستې د یوه جامع روش له خوا کیږي | • په ۲۰۱۳ کال کې، پنځه وړاندیزونه د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ،عامه روغتیا؛ مخابرات او ټیکنالوژي سوداګري؛ او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارتونو لخوا د ظرفیت جوړونې لپاره د پایلو برنامې لپاره د نړیوال بانک ته وړاندې شول. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت وړاندیز د برنامې مشورتي ډلې لخوا تصویب شوی او دا مهال د پلي کیدو او تمویل څخه دمخه د مشرتابه کمیټې لخوا نهایي کیږي.<br><br>• ملګرو ملتونو او نړیوال بانک ژمنه کړې چې د ملي تخنیکي مرستې لپاره د حکومت په کچه ، د ۶۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰ دولتي کارمندانو لپاره د معاشونو دوامداره سمون ته ژمن دي چې دا مهال د خپلو وجوهو له لارې هغوی ته تادیه کیږي. |
| د سیمه ایزې حکومتدارۍ پالیسۍ پلي کول او د سیمه ایزو مقرراتی، مالیاتي او بودیجوی چوکاټونو منځته راوړل | • د ښاروالۍ قانون د کابینې لخوا تر څیړنې او مرور لاندې دی. د دې نهایي کیدو په تمه، د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکې ادارې د عوایدو تولید ښه کولو لپاره د ښاروالۍ د عمل پلانونو پراختیا رهبري کوي.<br><br>• د ولسوالۍ او کلیو په کچه د حکومتدارۍ او پراختیا ملي پالیسي د کابینې لخوا د ۲۰۱۳ کال د دسمبر په ۳۰ نیټه تصویب شوه. د ولایتی شورا تعدیل شوی قانون د جنوري په ۴ د ولسي جرګې لخوا تصویب شو. د سیمه ایز حکومتوالی قانون د کابینې او ملی شورا لخوا تصویب ته انتظار باسي تایید شو.<br><br>• په ۲۰۱۳ کالی کې، چارواکو په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ولایتي پراختیا یو کلن پلانونه بشپړ کړل. |
| د اداري پولو لپاره د معیارونو پراختیا او څېړول | • ملي او بین المللي نهادونه د ۲۰۰۹ کال داخلي حدود معلوماتو کارولو ته ادامه ورکوي چې د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکه ادارې او د جیوډیسي او کارتوګرافي مرکزي دفتر لخوا ټاکل شوي. |
| د کارنده دولتي ادارو لپاره د مناسبو زیربناوو را منځ ته کول ، په ځانګړې توګه په سیمه ییزه کچه | • د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه ادارې ۴ د ولایتي او ۱۱ د ولسوالیو اداري ودانیو او استوګنځیو ودانۍ بشپړې کړې.<br><br>• د ۲۰۱۴ کال د فبروري په ۲۳ نیټه، ولسمشر د جزایي اجرااتو قانون وروسته له هغې توشیح کړ کله چې د ملي شورا د دواړو مجلسونو لخوا تصویب شو. |

| | |
|---|---|
| د باور وړ او لاس رسی وړ عدلي او جزايي سيستمونو تاسيسول چې د ټولو اتباعو بشري حقونو ته درناوي وکړي او د هغو ساتنه کوي | • د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې، د د جزايي اصلاحاتو کاري ډلې د عدليې وزارت تر مشرۍ لاندې د جزا کډ مسوده چې ۲۲۰ مادې لري، نهايي کړه. تمه کيږي چې د تروريزم سره د مبارزي قانون، د اداري فساد سره د مبارزي قانون، د پيسو مينځلو سره د مبارزي قانون او د انسان د قاچاق ضد قانون په شمول ټول هغه جزيی احکام چې د ۲۰۰۱راهيسې نافذ شوي، د جزا په اوسني ګډ کې راغونډ کړي.<br><br>• په ۲۰۱۳ کال کې، د مرکزي زندانونو عمومي رياست د زندان مديريت او اداري پلې کولو ته وده ورکولو او همدارنګه د بشري حقونو مقرراتو د مراعتولو لپاره د زندان په اړه د ۱۱۴عملياتي لارښوونو لاسليک کړې.<br><br>• د "ټولو لپاره قانون او عدالت" تر نامه لاندې د ملي لومړيتوب برنامه د ۲۰۱۳ کال د جون په ۲۹ نيټه د انسجام او نظارت ګډ بورډ په ناسته کې تائيد شوه.<br><br>• د عدليې وزارت د حقوقي مرستو د دفترونو شمير په ۲۰۱۳ کال کې ۳۱ دفترونو ته لوړ کړ. ياد دفترونه لپاره ټولټال ۱۰۱حقوقي مساعدونه په کار ګمارل شوي چې دا په ۲۰۱۲ کال کې د ۸۴ په پرتله زياتوالی ښيي. نور ۴۲ وکيلان د افغانستان د بيارغونې وجهی صندوق د عدالت سکتور د پراختيا پروګرام له لارې خپل فعاليتونه مخ ته وړي.<br><br>• په ۲۰۱۳ کې، د غير دولتي سازمانونو لخوا د حقوقي مرستو خدماتو وړاندې کول کم شوي. يعنې د وکيلانو شمير په ۲۰۱۲ کې د ۲۳۶ څخه ۲۰۸ تنو ته راټيټ شوی.<br><br>• د افغانستان مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنې سره راجستر شوي وکيلانو شمير د ۲۰۱۲ دسمبر په مياشت کې له ۱۵۰۰ تنو څخه په ۲۰۱۳ دسمبر کې نږدې ۲ زره تنو ته لوړ شو.<br><br>• په ۲۰۱۲ کال کې د کورنيو چارو وزارت ته د مرکزي زندانونو رسمي ليږد څخه وروسته، د ياد رياست لپاره د معاشونو بياکتنې پروسه د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۲۳ نيټه بشپړه شوه، ترڅو د پوليسو سره په معاشونو کې برابری ترلاسه کړي او د کارمندانو ساتنې ته وده ورکړي. |

| | |
|---|---|
| | • د مرکزي زندانونو عمومي ریاست، د نورو ملي او نړیوالو شریکانو سره په ګډه، د کورنیو چارو وزارت لس کلن لید د یاد ریاست لپاره رامنځ ته کړ، چې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۳۰ پیل شوی و. یاد وزارت د ملګرو ملتونو په مرسته، د یو لړ دوه کلن سټراټیژیک پلانونو منځ ته راوړلو په موخه همغږي او تخنیکي مرستې وړاندې کړې چې هدف یې د یاد لید پلي کیدو سره مرسته ده. <br><br> • د ۲۰۱۲ کال راهیسې د محبس نفوس د ۳۳ سلنې ډیروالي په ځواب کې، د نارینه وو لپاره دوه او د میرمنو لپاره دوه نوي زندانونه په ۲۰۱۳ کال کې فعاله شول. همدارنګه د ماشومانو لپاره د بیارغونې درې مرکزونو فعالیت پیل کړ. |

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته د درناوي ښه والې، په تیره بیا، د ملکي وګړو ساتنه، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان آزادي، د قانون د حاکمیت پر بنسټ حساب ورکونه**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د نړیوالو قوانینو سره د ذیدخلو مراجعو د سمون له لارې، د ملکي خلکو په وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پیښو په شمیر کې کمښت | • په ۲۰۱۳ کال کې، د جګړې اړوند تاوتریخوالي ۲۹۵۹ملکي وګړي وژلي او ۵۶۵۶ تنه نور یې ټپیان کړي، چې دا ټولټال د ۲۰۱۲ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په سلو کې ۱۴ سلنه زیاتوالی دی. د دولت ضد عناصر د ۲۳۱۱ ملکي وژنو او ۴۰۶۱ ټپي کیدو مسؤل وو، چې د ۲۰۱۲کال په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی دی. د حکومت پلوه ځواکونه د ۳۴۱ ملکي وژنو او ۶۱۵ ټپي کیدو مسؤلیت لري، چې دا د ۲۰۱۲ په پرتله ۵۹ سلنه زیاتوالی دی. د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنۍ نښتو له امله د ۱۶۰ ملکي وګړو د مرګ او ۷۲۰ ټپي کیدو منځ ته راغلي، چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۶۴ سلنه ډیروالی ښيي. د یادونې وړ ده چې د یادو تلفاتو مسوولیت هیڅ یو اړخ ته منسوب شوې نده. <br><br> • په ۲۰۱۳ کال کې، د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماشومانو او وسله والو شخړو په اړه د څارنې او راپور ورکولو په اړه د هیواد کاري ځواک د ماشومانو تلفاتو ۱۶۹۴ثبت کړي. ټولټال ۵۴۵ |

| | |
|---|---|
| | ماشومان وژل شوي او ۱۱۴۹ ماشومان ټپيان شوي، چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۲ سلنه زياتوالی دی. |
| | • حکومت د ولسمشرۍ معلوماتو د همغږۍ مرکز کې د ملکي تلفاتو تعقيب خونې له لارې د ملکي تلفاتو تعقيب ته دوام ورکړ. |
| | • د جنګ چاوديدونکي پاتې شونو څخه د ملکي تلفاتو کمولو په موخه، د ۲۰۱۳ په دسمبر کې نړيوال امنيت مرستندويه ځواک د ډزو د انداخت ځايونو په شمول د نظامي تاسيساتو نښه کولو او پاکولو ملاتړ لپاره طرزالعملونه رامنځ ته کړل. |
| | • په ۲۰۱۳ کې، طالبانو په منظمه مياشتنۍ اعلاميه کې د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو ۲۷۷ پيښې راپور ورکړې. يوناما وکولای شول د دې پيښو ۱۷۴ د جګړې اړوند تاوتريخوالي په اړه د خپل راپور ورکولو له لارې تاييد کړي. |
| | • ملګرو ملتونو د نړيوال قانون سره مطابقت پياوړي کولو لپاره د پراخه نظارت او مدافعې هڅو ته دوام ورکړی او يوناما په ۲۰۱۳ کې د فشارې په لاس جوړ چاوديدونکو توکو له امله ملکي تلفاتو کې ۳۹ سلنه کمښت ثبت کړی. |
| د خپلو حقونو په اړه د افغانانو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه د پوهاوی لوړوالی | • د منازعې اړوند توقيفيانو سره د شکنجې او بد چلند ادعاوو ته د رسيدګۍ په موخه، د ولسمشر د ۱۶۹ ګڼه فرمان د صادريدلو په تعقيب، د کورنيو چارو وزارت، د ملي امنيت لوی رياست او لويه څارنوالی د خپلو پرسونل روزنه پياوړې کړې، چې په هغو کې د امنيت رياست او پوليسو په ملی اکاډميو کې د بشري حقونو د لارښود کتابونو شامل دي. |
| | • په ۲۰۱۳ کال کې، يوناما څلور عام راپورونه خپاره کړي: دوه د ملکي وګړو د ساتنې په هکله، يو د ښځو په وړاندې د تاوتر يخوالي د له منځه وړلو د قانون په پلې کيدو او په افغانستان کې د جګړې اړوند توقيف شويو سره چلند په هکله. د ياد راپورونو سره په ګډه، يوناما د بيلابيلو شريکانو او رسنيو سره د عدالت غوښتنې فعاليتونه ترسره کړي ترڅو د افغانستان خلکو کې عامه پوهاوی لوړ کړي. |
| | • حکومت د عمل پلان پلي کولو لپاره هڅو ته دوام ورکړی ترڅو ماشومان د شخړې له اغيزو څخه خوندي کړي او د |

| | |
|---|---|
| د ښځو او نجونو په وړاندې د مبارزې په موخه د اغیزو، او ملاتړ لپاره، حقوق او د پالیسۍ اړوند اقداماتو ښه والی | وسله والو ځواکونو لخوا د کم عمره ماشومانو د استخدام مخه ونيسي. د ۲۰۱۳ کال مۍ میاشت کې، ملګرو ملتونو د حکومت کلني پرمختګ راپور ته رسمي ځواب وړاندې کړ او د حکومت لخوا د عمل پلان پلي کولو ګړندي کولو لپاره د ۱۵ ټکو پلان په جوړولو کې مرسته وکړه.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۳ نیټه، ملګرو ملتونو او یوناما د امنیت شورا د ۲۰۰۰ کال د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک له مخې "د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د ازادۍ نړیواله ورځ" ولمانځله. یادې غونډې د "د سیاسي ګډون کول د هرچا حق دی: میرمنې د رایه ورکونکو او کاندیدانو په توګه" په موضوع باندې تمرکز درلود.<br><br>• په ۲۰۱۳ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او یوناما راپورونه خپاره کړل چې د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو د قانون پلي کیدل په ګوته کوي. یاد راپورونو کې د پولیسو، څارنوالانو او محکمو لخوا د قانون په پلي کولو کې د پرمختګونو او دوامداره تشو یادونه شوې. د قانون پلي کول د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ په ځانګړې ناسته کې چې د ۲۰۱۴ په جنوري کې جوړه شوې وه، بحث وشو.<br><br>• د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع کمیسونونه په ۳۲ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړلو د قانون د احکامو سره سم تاسیس شوی، او د ښځو چارو وزارت په ۳۱ ولایتونو کې د ځایي چارواکو سره کار وکړ ترڅو د ملګرو ملتونو په تخنیکي ملاتړ، د قانون د پلي کولو ته وده ورکړي.<br><br>• د ۲۰۱۳کال د نومبر په ۲۵ نیټه، د جندر د تاو تریخوالي پروړاندې د فعالیت ۱۶ورځینو د برخو په توګه، د ښځو په وړاندې د تاوترخوالې د پای ته رسولو په اړه د پوهاوي د لوړولو نوښت پیل شو. د ملګرو ملتونو په ملاتړ، د ښځو چارو وزارت او کار، ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت لخوا د ماشومانو د واده کولو په اړه کمپاین په ټول هیواد کې ترسره شو. |

| | |
|---|---|
| | • د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي په اړه څو اړخیز غبرګون په ۲۰۱۳ کاب کې هم دوام وموند. د روغتیا په سکتور کې د مسلکي مرستې او راجع کولو خدماتو ادغام د عامې روغتیا وزارت لخوا د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق په مرسته پیل شوی دی. |
| د معافیت سره د مبارزې په اړه د حقوقي او پالیسي اقداماتو، او انتقالي عدالت ته د لاسرسی په اړه د پوهې او د هغه سره د ملاتړ ، ښه والې | • د فبروري په میاشت کې، د مدني ټولنې ډلو، د سولې په اړه د افغانانو د خبرو دوهم پړاو د یوناما په ملاتړ، پیل کړ، چې موخه یې د سولې لپاره د ځایي نقشو منځ راوړلو لپاره د ټول شموله خبرو ملاتړ کول دي. د ۲۰۱۳ تر پای پورې، دې پروسې د ۴۵۷۲ خلکو سره د ۱۸۷ متمرکز ګروپ بحثونو ته لاره هواره کړې چې د پراخه ټولنیز ډګر استازیتوب کوي.<br><br>• د ۲۰۱۳ د جولای په ۲۴، د سولې عالي شورا د میرمنو کمیټې د ټولو وزارتونو او ریاستونو د جنډر د تماس مسوولینو لپاره کنفرانس جوړ کړ ترڅو د میرمنو سیاسي برخه اخیستنه او د سولې پروسې ته وده ورکولو کې د دوی رول په اړه وغږیږي.<br><br>• د ۲۰۱۳ کال په دسمبر کې، د جنډر مساواتو او د ښځو ځواکمنولو لپاره د ملګرو ملتونو ادارې (یو این - ویمن) "د مرغیو په څیر چې مات شوي وزرونه لري: د افغانو میرمنو شفاهی تاریخ ، ۱۹۷۸-۲۰۰۸" تر عنوان لاندې یو راپور خپور کړ، چې په ۳۰ کلنه جګړه د میرمنو شفاهی تارخی تر پوښښ لاندې راغلې و. په یاد راپور کې د افغان میرمنو اظهرات لیکل شوي دي ترڅو "په رسمي تاریخ کې د منع شوي کسانو لپاره غږ" ورکړي او خپلې شخصي تجربې شریک کړي، او د قربانیانو یا شاهدانو په حیث، په پخلاینې او بدلون کې مرسته وکړي. |
| د بشري حقوقو د نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونه په اړه د حکومت د راپور ورکولو اړتیاوې بشپړول او د افغانستان په اړه د بشري حقونو د شورا د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د سپارښتنو پلې کول | • د ۲۰۱۲ کال په دسمبر کې، د افغانستان حکومت، د ملګرو ملتونو په ملاتړ د پرسونل ضد ماینونو بندیز کنوانسیون د پنځمې مادې پراساس د خپلو مسؤلیتونو پوره کولو لپاره د لس کلن مهال ویش د تمدید غوښتنه وکړه. د ۱۰ کلن کاري پلان پلې کول د ۲۰۱۳ کال په اپریل کې پیل شو تر څو د ۲۰۲۳ کال پورې د ماین ټولې پیژندل شوې ساحې پاکې شي.<br><br>• د ۲۰۱۳ د جولای په ۱۰، افغانستان د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیضونو د له منځه وړلو کنوانسیون باندې خپل |

| | |
|---|---|
| | لومړني او دوهم دوره ای راپورونه وړاندې کړل. د ملګرو ملتونو په ملاتړ، د دولت او مدني ټولنې استازو خپلې موندنې وړاندې کړې او د کنوانسيون کميټې پوښتنو ته يې ځوابونه ووېل.<br>• د ۲۰۱۳ کال په نومبر کې، دولت خپل دوهم راپور د بشري حقونو شورا نړيوال دوراني بياکتنې ميکانيزم ته وړاندې کړ. ياد راپور په ۲۰۰۹ کې د شورا لخوا وړانديز شوي ۱۱۷ وړانديزونو په پلي کولو کې د حکومت پرمختګ په ګوته کوي.<br>• د ۲۰۱۳ کال په دسمبر کې، د عدليې وزارت، د ملګرو ملتونو په مرسته، د حکومت د وزارتونو او نهادونو سره مشورې ترسره کړې ترڅو د ماشوم د حقونو کنوانسيون لاندې خپلې ژمنې پلي کولو ته لومړيتوب ورکړي.<br>• د ۲۰۱۳ کال د نومبر په ۱۸ نېټه، د ملي بشري حقونو د انسجام نړيوالې کميټې لخوا د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون پنځه کلنې بياکتنې وروسته، د اعتبار ورکولو فرعي کميټې پريکړه وکړه ترڅو د کميسيون بيا اعتبارليک د ۲۰۱۴کال د کميټې دويمې غونډې پورې وځنډوي ترڅو کميسيون ته اجازه ورکړي د ګمارنې پروسو، د جنډر کارمندانو تناسب او تمويل په اړه اندېښنې په ګوته کړي.<br>• په ۲۰۱۳ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ښځو پروړاندې د تاو تريخوالي، د ماشومانو وضعيت، جنسي تيري او ناموسي وژنو، عدالت ته د وګړو لاسرسي او په افغانستان کې د لويانو شرايطو په اړه راپورونه خپاره کړل.<br>• په ۲۰۱۳ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د ملګرو ملتونو په مرسته، د ماشومانو حقونو د سرغړونو د څارنې او حل لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي. د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نيمای کې د ماشومانو د حقونو څانګې لپاره د روزنې په تعقيب، د کميسيون لخوا د ماشومانو حقونو د ثبت شويو سرغړونو شمير د ۲۰۱۳ کال په دويمه ربع کې له ۲۱ څخه د ۲۰۱۳کال تر پايه ۲۰۰ تنو ته لوړ شو. | د افغانستان د حکومت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په ظرفيت او ژمنتيا کې زياتوالی، د بشري حقونو د ملي اداري په حيث، د بشري حقونو درناوی،ساتنه، تحقق او ترويج |

**پنځم. اقتصادي او ټولنيزه پراختيا**

**معيار: د حکومت پاليسې ګانې چې د نړيوالې ټولنې له خوا يې ملاتړ کيږي، کوم چې پايښت لرونکي اقتصادي رشد ته وده ورکوي او په ټوله کې ثبات سره مرسته کوي.**

| د پرمختګ شاخصونه | مقیاسونه |
| --- | --- |
| د ملي لومړیتوب پروګرامونه د نړیوال ملاتړ په تایید سره طرحه کول او پلي کول | • د ۲۰۱۳ په جون کې، د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ د ملي لومړیتوب برنامې د "ټولو لپاره قانون او عدالت" تر عنوان لاندې تایید کړه، او د ۲۲ تایید شوي برنامو څخه یې د ملي لومړیتوبونو برنامو شمیره ۲۲ ته راوړه.<br>• د ۲۰۱۳ د جولای په ۳، د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې چوکاټ د لوړ پوړو چارواکو غونډه په کابل کې جوړه شوه. د یادونې وړ ده چې حکومت او نړیوالې ټولنې دواړو د خپلو ژمنو په عملي کولو کې پرمختګ کړی، خو دا چې د مرستو اغیزمنتوب، د بشر حقونو، په عامه مالیه کې صداقت او ټول شموله ودې په ګډون د پام وړ مسلو لپاره لا زیاتو هڅو ته اړتیا وه.<br>• د دې دوه ناستو په تعقیب، حکومت د ملي لومړیتوب پروګرام پلي کولو تخنیکي کاري ډله رامنځ ته کړه. یاده ډله اوس مهال د ملي لومړیتوبونو پنځه برنامې بیاکتنه کوي ترڅو د مالي انډولیزیا غوره کړنو ارزونه وکړي او ترڅو د نورو برنامو پلي کولو لپاره وکارول شي. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ویش | • د مالیې وزارت د ولایتي بودیجې پالیسي جوړه کړې. دا پالیسي، چې اوس د بیاکتنې لپاره کابینې ته وړاندې شوې ده، هدف یې د مرکزي حکومت د ونډې توازن کول دي، پداسې حال کې چې د مستقیم خدمتونو عرضه کولو ته د وده ورکولو لپاره د ولایتي او ولسوالۍ چارواکو ورته پیاوړي کړي.<br>• د ۲۰۱۴ د فبروري تر ۱۱ نیټې، ټولو ۲۳ ولایتونو د ولایتي بودیجې روان پروګرام کې برخه اخیستې وه چې د مالیې وزارت لخوا رهبري شوي. یاد پروګرام ورسته پاتې ولایتونو ته د ۳ میلیون ډالرو او مخ پر ودې ولایتونو ته د ۱ میلیون ډالرو مرستې تخصیص کړي. دا د سیمه ایز ظرفیت پر پراختیا تمرکز کوي ترڅو د عاجل پراختیا اړتیاو لپاره پلان وکړي، په ځانګړي توګه په هغو سیمو کې چې د ولایتي بیارغونې ټیمونه تړل شوي دي. |
| د افغان سرچینو پر بنسټ د عایداتو زیاتوالي او دوامداره وده | • د نړیوال بانک د ۲۰۱۴ جنوري نړیوال اقتصادي راپور ښیي چې په ناخالص کورني تولید کې د افغانستان وده د ۲۰۱۲ کال له ۱۴.۴ سلنې څخه په ۲۰۱۳ کې ۳.۱ سلنې ته رسیږي. تمه کیږي چې به د ۲۰۱۴ په لومړۍ نیمايي کې ورو اقتصادي وده دوام وموږي. په پایله کې، د نړیوال بانک د معلومات له مخې |

| | |
|---|---|
| | چې د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ ځانګړې ناستې ته ورکړل شول، اټکل شوی چې د عوایدو ټولول په ۲۰۱۲ کال کې د ناخالص داخلي محصول له ۱۰.۳ سلنې څخه په ۲۰۱۳ کال کې ۹.۶ سلنې ته راکم شوي وي. |

**شپږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ټیکاو په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سیمه ایزو ارګانونو په همغږۍ ښه والي او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د مارچ په ۲۰ په عشق آباد کې، د افغانستان، ترکمنستان او تاجیکستان ولسمشرانو د دریو هیوادونو ترمنځ د ریل پټلۍ د جوړولو په هکله د تفاهم یادداشت لاسلیک کړ.<br>• د مارچ په ۲۹، په دوشنبه کې د آسیا همکارۍ ډیالوګ په یوولسم وزیرانو ناسته کې برخه اخیستونکو، د سوداګرۍ، پانګونې، ترانزیت او خلکو ته د خلکو د اړیکو هڅولو لپاره د سیمه ایزې اړیکې د ودې په لارو چارو خبرې وکړې.<br>• په الماتي کې د اپریل په ۲۶، د استانبول پروسې په اړه د وزیرانو په دریم کنفرانس کې برخه اخیستونکو د اعتماد جوړونې شپږ پلانونه تصویب کړل. په کنفرانس کې تصویب شوې اعلامیې د پروسې سیاسي ماهیت باندې ټینګار وکړ، خو په توافق شویو فعالیتونو کې د څرګند پرمختګ په اړتیا يې ټینګار وکړ او برخه اخیستونکو باندې د لندمهاله او تمویل غږ وشو.<br>• د جولای په ۹، د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هند د ګازو پایپ لاین پروژې په اړه پرمختګ شوی او د افغانستان او ترکمنستان تر منځ په عشق آباد کې د ګازو د پلور او پیرود تړون لاسلیک شو.<br>• په قرغزستان کې د جولای په ۱۳، د شانګهای همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو شورا غونډې د تروریزم او مخدره توکو پورې اړوند جرمونو څخه د یو خپلواک، سوله ایز، بې پرې او سوکاله دولت په توګه د افغانستان ملاتړ تایید کړ. د افغانستان د ملاتړ لپاره په نړیوالو هڅو کې د ملګرو ملتونو مرکزي رول هم یوځل بیا تصدیق شو.<br>• د اګست په ۴، ولسمشر کرزي د ایران اسلامي جمهوریت څخه لیدنه وکړه او د افغانستان د ملي امنیت شورا او د ایران د اسلامي جمهوریت د ملي امنیت عالي شورا ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو په اړه د تفاهم یادداشت لاسلیک شو. |

| | |
|---|---|
| | • د سپتمبر په ۱۰ او ۱۱، د دفاع په اړه د پاکستان د سنا مجلس کميټې يو پلاوي له افغان همکارانو سره د امنيت مسلو او همکاريو بياکتنې لپاره وکتل.<br>• په سپتمبر ۱۲ او ۱۳ په بشکيک کې، ولسمشر کرزي د شانګهای همکاريو سازمان په دیارلسمه سرمشریزه کې ګډون وکړ او له دغه سازمان سره يې د اړيکو لا غښتلي کولو ته ژمنه ورکړه.<br>• په اسلام آباد کې د سپتمبر په ۱۶ او ۱۷، د مرکزي آسيا-سويلي آسيا د بريښنا د لېږد او سوداګرۍ پروژې په اړه د بين الحکومتي شورا په څلورم غونډې کې ګډونوالو درې پريکړه ليکونه تصويب کړل چې د قرارداد جوړښتونه او تدارکاتو او مالي کميټې يې رامنځته کړي.<br>• د سپتمبر په ۲۶، د پاکستان - افغانستان پارلماني خبرو اترو اووم پړاو په اسلام آباد کې ترسره شو.<br>• د اکتوبر په ۲۱ په دوشنبه کې، د افغانستان او تاجيکستان ولسمشرانو د ماين پاکۍ ، پولې څخه د اوښتو پروتوکولونو او بيمې همکارۍ په هکله تړون لاسليک کړ.<br>• د اکتوبر په ۳۰ ، افغانستان، د روسيې فدراسيون او تاجيکستان د سرحدي همکاريو پروتوکول لاسليک کړ.<br>• د دسمبر له ۱۲ څخه تر ۱۵ پورې، ولسمشر کرزي هند ته رسمي سفر وکړ. د ليدنې په جريان کې، د "آسيا زړه" پروسې په شمول د دواړو هيوادونو د ستراتيژيکو همکاريو موافقتنامه او سيمه ييز ادغام او پراختيا پلي کولو باندې بحثونه ترسره شول.<br>• د دسمبر په ۱۹، د پاکستان څخه پارلماني پلاوی کابل ته راغی. د دواړو خواو پارلماني غړو وړانديز وکړ چې افغانستان او پاکستان د ستراتيژيکو همکاريو د مشارکت تړون لاسليک شي.<br>• د ۲۰۱۴ کال د جنوري په ۱۷، هندوستان په نوي ډيلي کې د سيمه ايز امنيت او همکارۍ په اړه د استانبول پروسې د لوړ پوړو چارواکو د غونډې کوربه و. د باور جوړونې شپږو اقداماتو په اړه پرمختګ وشو او د دوی وړانديز شوي تمويل نمونو په اړه بحث شوی. |

**اووم. د افغانستان او نړيوالې ټولنې تر منځ مشارکت**

**معيار: د افغانانو تر رهبري لاندې د همغږي په چوکاټ کې د افغان لومړيتوبونو لپاره د نړيوالې ټولنې له خوا منسجم ملاتړ**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|

| | |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي او د حکومت د لومړیتوبونو سره په مطابقت د مرستو د سلنې زیاتوالی | • حکومت د مرستې د مدیریت د پالیسۍ د پلي کولو لپاره دوه لارښود کتابونه خپاره کړي: یو يې د ملي لومړيتوب برنامې (د ۲۰۱۳ کال په مارچ کې) او بل د بوديجې له طريقه (د مۍ ۲۰۱۳).<br>• په ۲۰۱۳کال کې د مالیې وزارت په مشرۍ یو کاري ځواک جوړ شو چې د حکومت ، مرستندویه ټولنه، نور څوارخیز شریکان، مدني ټولنه او د خصوصي سکتور په منځ کې د بودجې د پلي کیدو لپاره ملاتړ جلب کړي او هغه ژمنې تر سره کړي چه د شکننده هوادونو نوی تړون کې راغلي. وزارت، د ملګرو ملتونو سره په ګډه، د نوی تړون د سولې جوړونې او دولت جوړونې پنځو اهدافو د بررسي په اړه یو څیړنه په لاره اچوی.<br>• د سواد زده کړې د ودې لپاره د دې برنامې د یوې برخې په توګه، په ۲۰۱۳کال کې، د "د ټولو لپاره تعلیم" ملي لومړیتوب برنامې لاندې د معاشونو د تادیې لپاره د ولایت او ولسوالۍ په کچه د ملاتړ د مالي مدیریت وړتیا پیاوړي کولو لپاره په حکومت کې د بودیجې تعدیل رامنځ ته شوی چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ رامنځته شوی. |
| د دولت او نړیوالې ټولنې په استازیتوب د تدارکاتو او قرارداد په اړه د حساب ورکونې بهتر کیدل | • د ۲۰۱۳ په نومبر کې، حکومت د عامه تدارکاتو پورې اړوند د بودیجې پلي کولو، خدماتو وړاندې کولو او پراختیایی پایلو لاسته راوړنو په وړاندې د خنډونو په نښه کولو لپاره د ملي تدارکاتو عالي کنفرانس جوړ کړ. کنفرانس د عامه تدارکاتو قانون په یوه اعلامیه سره پای ته ورسید، د ملي او بین المللي شریکانو لخوا د عامه تدارکاتو کې د روڼتیا، حساب ورکونې او صداقت اصول ساتلو لپاره د دوی مسؤلیت تایید کوي. |
| د کابل پروسې په ملاتړ او د لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د منظمې بیا کتنې د تسهیلولو د یوې وسیلې په توګه د همغږۍ د ګډ بورډ پیاوړي کول | • د جنوري په ۲۹ نیټه د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ په ځانګړې ناسته کې برخه اخیستونکو د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې چوکاټ په پلي کولو کې ترسره شوي پرمختګونه ارزیابي کړل او د اداري فساد ضد اقداماتو، د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو د قانون پلي کول او د پیسو نړیوال صندوق د بینچمارکونو ترسره کولو په ګډون د مهمو شاخصونو پرمختګ ګړندي کولو باندې ټینګار وکړ. |

**اتم: د نشه يي توکو سره مبارزه**

**معیار: د تریاکو د کښت ، د مخدره توکو د تولید او په مخدره توکو په اعتیاد کې پایښت لرونکی کمښت**

| | |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| د ترياکو د کښت، مخدره توکو د تولید او اعتیاد په کچه کې کمښت | • په ۲۰۱۳ کال په افغانستان کې د کوکنارو کښت زیات شوي او د تېرو ټولو ثبت شويو شمېرو څخه زيات دی. د کښت سيمې کابو ۲۰۹۰۰۰ هکتاره ځمکه احتوا کوي کوم چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۶ سلنه زياتوالی ښيي. په ۲۰۱۳ کال کې ۵۵۰۰ ټنه ترياک توليد شوي چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۹ سلنه زياتوالی ښيی. د کوکنارد کښت څخه پاک ولايتونو چې په ۲۰۱۲ کال کې ۱۷ ولايتونه وو په ۲۰۱۳ کال کې ۱۵ ولايتونو ته ټيټ شول. په ۲۰۱۳ کال کې د ترياکو تر ټولو زيات توليد (۸۹ سلنه) د افغانستان په نهو سهيلي او ختيزو ولايتونو: هلمند، قندهار، فراه، اروزګان، ننګرهار، بدخشان، بادغيس، دايکندی او نيمروز کې تولی شوي.<br>• په ۲۰۱۳ کال کې نوي ديټا شتون نلري چې ښکاره کړی چې د هيواد په کچه د روږديتوب په شمېر کې کموالی راغلي. په ورته حال کې حکومت د مخدره توکو د تقاضا د کمولو ستراتيژی او د اچ آی وي لپاره د ملی ستراتيژيک چوکات پلی کولو ته ادامه ورکړي او د نړيوال بانک او د ايډز، نری رنځ او ملاريا سره د مبارزي نړيوال صندوق سره خبري کړي تر څو دوي د اچ آی وي د مخنيوی، علاج او مراقبتي خدمتونو پروګرام ته ادامه او هغه لا نور هم پراخ کړي.<br>• د مخدره توکو د علاج خدمتونه زيات شوي او په ۲۸ ولايتونو کې د ۱۰۱ معالجوی خدمتونو له لاري کابو ۳۲۰۰۰ تنه نور تر پوښښ لاندي نيولي. په ۲۰۱۳ کال کې د زيات شوي خدمتونو په لړ کې په ۱۱ ولايتونو کې د ۵۷ مرکزونو له لاري د ضرر رسولو د کمولو خدمتونو د پياوړی کول او ايجادول شامل وو. د ټولنو په کچه او همدارنګه په بنديخانو کې دا ډول نوښتونه د زيانمنيدونکو ډلو، د ښځو مخدره توکو استعمال کوونکو، د نارينه استعمال کوونکو همکاران او ځوانو مخدره توکو استعمال کوونکو په ګډون، پر معالجوې خدمتونو باندي تمرکز درلود. |
| د موثره لمنځه وړلو او قاچاق ضد هڅو په برخه کې زياتوال | • په ۲۰۱۳ کال کې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې پوليس ۳۲۴۳ عمليات تر سره کړي چې په پايله کې ۷۱۵۷ کيلوګرام هيروين، ۲۳۹۷۹ کيلوګرام مورفين، ۱۱۵۶۵۰ کيلوګرام ترياکو ۳۱۹۲۶ کيلوګرام چرس، ۱۳۶۹۷ کيلوګرام بنګ او ۱۱ کيلوګرام ميتامفتامين تر لاسه کړي دي. د دي برسيره ۶۵۱۸۷ ليټره پيشنياز مايع، ۴۵۸۰۶ کيلوګرام وچ پيشنياز هم ضبط شوي. همدارنګه د مخدره توکو په وړاندي د مبارزي پوليس د ۷۳۴۸ هکتاره ځمکه د کوکنار د کښت څخه پاک او ۷۱ د هيروينو د توليد کارخانې ويجاړې کړيدي. د دغه فعاليتونو په نتيجه کې ۳۰۸۱ تنه شکمن کسان نيول شوی، ۲۵ تنه د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی پوليس وژل شوي او ۷۴ تنه هم ژوبل شويدي. |

| | |
|---|---|
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې ترياک کرل کيدل، په قانونه کرهنه او اړوند خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زياتوالی | • د پيشنياز پر ضد د منطقوي استخباراتی کاری ډله خپل سيمه ييز همکاری پياوړي کولو ته دوام ورکړي تر څو د پيشنياز د مادي د قاچاق سره مبارزه لا پسي ښه کړي. په ۲۰۱۳ کې د پيشنياز د کيمياوی موادو پنځه تحقياقي دوسيي، د ۱۴۱۰۵۵ ليټره مايع په ګډون، چې د کاري ډلې له خوا توصيه شوي وو، ورباندي کتنه شوي او د هغه د تېر شوي مسير د پيدا کولو باندي تحقيقات پيل کړي.<br>• په ۲۰۱۳ کې د دري اړخيزو نوښتونو په چوکاټ کې د افغانستان-قرغزستان-تاجکستان تر منځ اوه د هماهنګي غونډي تر سره شوي چې د هغه په پايله کې يو تړون ترسره شوي او يو شمېر ښپارښتنی، د ګډ او په ورته وخت کې د عملياتو د تر سره کولو په ګډون، ورکړ شويدي. د افغانستان د قانون د تنفيذ نهادونه د تاجکستان د هيواد سره په ګډه شپږ ګډ عمليات تر سره کړي چې په پايله کې ۴۳۰،۴ کيلوګرام مخدره توکې ضبط شوي.<br>• د دري اړخيزو نوښتونو په چوکاټ کې د سمندری سيمه اييز امنيتي نوښت، چې موخه يې د پاکستان او د ايران اسلامی جمهوريت تر منځ سمندری همکاری پياوړی کول وو، د ۷ ټنو مخدره توکو د ضبط لامل شوي دی.<br>• په ۲۰۱۳ کې د مخدره توکو سره د مبارزی وزارت د ملي لومړيتوب په پروګرامونو کې، د قانونی کرنې او اړوند خصوصی پانګې اچونې د تدبيرونو لپاره د ارزونې د ميکانيزم د جوړولو په ګډون، د مخدره توکو سره د مبارزې د موخه په ادغامولو کې کليدی ونډه تر سره کړي دی.<br>• په ۲۰۱۳ کال کې د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت يو ګام په مخه اخيستي چې د مخدره توکو د کنترول ملی ستراتيژی باندي بيا کتنه وکړي تر څو موضوعی پاليسي ګانې طرحه کړي.<br>• د افغانستان په شمالی او شرقي ولايتونو کې، د ملګرو ملتونو سره په ګډه د مخدره توکو سره د مبارزی وزارت او د کرهنې اوبو لګولو او مالداری وزارتونه ۱۲ واړه د معيشت بديل پروژې مديريت کړي، چې د ځمکو د پياوړي کولو د پروژو په ګډون، دوي سره مرسته او قانونې کرهنه زياتوي چې ۶۳۷۲ کورنې تري ګټمن کيږي. |